مورچل

د افغانستان نا کتونکي جګړه!!

یوولسم کال دریمه، پرلپسې ۱۰۳مه ګڼه، جمادی الثانیة۱۴۳۸هق، مارچ۲۰۱۷م

۲۳ زره حملې

او د لسګونو ولسوالیو سقوط

- فتح سنګین، ضربه سنګین بر پیکر دشمن
- د افغانستان د بسپنو غله !!!
- جنګ اوږدوونکي نـوي امریکایي عزایم

په افغانستان کې د(اپریل پول) احمقان څوک دي؟

مورچل

علمي، سیاسي او جهادي میاشتینی خپرونه

یو ولسم کال دریمه، پرلپسې ۱۰۳مه ګڼه،
جمادی الثانیة۱۴۳۸هق مارچ۲۰۱۷م

د امتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت
دفرهنګي چارو کمیسیون

مسؤل مدیر :

صلاح الدین "صارم"

کتـــنپلاوی :

حسن خپل | ایوب صافی
حسن زوی | حکمت بغلانی
زبیر مسافر | حافظ سعید

تخنیکي چارې :

دفرهنګي کمیسیون تخنیکي څانګه

مکاتباتي ادرس :

پته: کابل ښار، پنځمه حوزه، دمجلې دفتر
E-mail: morchalmorchal@yahoo.com

لړلیک

ګڼه	مطلب	مخ
۱	سرمقاله.....	۱
۲	دافغانستان د بسپنو غله!!.....	۳
۳	په افغانستان کې د (اپریل پول) احمقان څوک دي؟.....	۶
۴	د جهاد فقهي مسائل.....	۹
۵	۲۳ زره حملې او د لسګونو ولسوالیو سقوط.....	۱۲
۶	فتح سنګین، ضربه سنګین برپیکر دشمن.....	۱۴
۷	سنګین یرغلګرو ته سنګین ګراد شو!.....	۱۶
۸	مسلمان ولس وژغورئ!.....	۱۹
۹	قاضي ابویوسف ته د امام ابوحنیفه غوره نصیحتونه....	۲۱
۱۰	د ناهیلۍ په عالم کې یو بل ناکام اقدام.....	۲۳
۱۱	د اسلامي دعوت په خپراوي کې د مسجد رول.....	۲۷
۱۲	جنګ اوږدوونکي نوي امریکایي عزایم.....	۳۵
۱۳	نړۍ دیو ستر تصادم با جنګ په لور.....	۳۸
۱۴	د اسلام غزوات او سرایا.....	۴۰
۱۵	جنګي جنایتونه (مارچ).....	۴۳
۱۶	د مورچل وږمې.....	۴۶
۱۷	د مارچ میاشتې جهادي خبرونه.....	۴۸

سرمقاله

د افغانستان

نا ګټونکې جګړه !!

که یو لورې ته دامریکا ځینې پوځي جنرالان دخپلو شخصي ګټو په خاطر دافغانستان دجګړې دامتداداو غځیدا لپاره دسپینې ماڼۍ دنوې چارواکې (ډونالډ ټرمپ)څخه نور اضافي عسکر غواړي او پدې مغالطه کې لویدلې ، چې ګوندې نور اضافي عسکر به داسلامي امارت دمجاهدینوپه وړاندې بریالي شي او افغانستان به دتل لپاره دامریکایانو مستعمره هیوادوي، خو بلې خوا دافغانستان له تیرفاتح تاریخ نه داسې ویریدلې اوخوف زده امریکایان هم شته، چې دافغانستان دکشالي په ابعادو او عمق پوهیږي او ددې درایت لري ،چې دافغانستان غرونه او رغونه یو نه تسخیریدونکې مورچلونه او داسې سرښندونکی مجاهد ولس پکې اوسي، چې هغوئ دپیړیو په پوړیو کې دهر زورواکې سره سر جنګولی او دچا دنیپال بم ،توپ ،ټانک او طیارې نه ندې ویریدلې او نه یې ورته دسرکوزی،سرټیټ کړی .

داتیرشپاړس کاله چې دامریکاپه مشرۍ ناټو اونورو (۴۸)مؤتلفوهیوادونو خپل زور وازمویه ،مګر بیا هم په خپلو شومو موخواو ښکیلاکي عزایمو کې بریالي نشول او نه دجګړې ګټونکې شول ،برعکس له ډیرو ځاني او مالي زیانونوکتونکي اودنړۍ په کچ یې دبرم او استکبار دریځ کمزوری شو.دامریکا دړې ولسمشران!! پکې بدل رابدل شول ،ډیرپوځي جنرالان او له سل زرو (۱۰۰۰۰۰)نه زیات عسکریې راوستل ،خو بیا یې هم سوبه ترلاسه نکړه او نه د کومې ویړمن بري مستقبل ته ژمن پریښې ،نو بالاخره دامریکایي جنرالانودتیورې یا نظریې برعکس ،ددې هیواد ځیړونکیواو کارپوهانو سپنې ماڼۍ ته کلک سپارښت وکړ، چې افغانستان افغانانوته پریږدي او ژر ترژره دې خپل پوځیان لدې هیواده راوباسي ،«پاول آر پیلر» اونور هغه ځیړونکې چې دامریکایي عسکرو خواخوږې دي ، دافغانستان دجګړې دګټلوپلوي نه کوي اونه پدې آند دي ،چې امریکایان به دا جګړه وګټي، دوئ امریکایانوته مشوره ورکوي

،چې دا جګړه تاسو نشئ ګټلای او باید نور ددې غرنې هیواده راووځئ ، د امریکا د(نیشنل انټرسټ) په نامه ورځپاڼه کې د «پاول آر پیلر» په نامه لیکوال د امریکا نوي اداري ته په افغانستان کې د روسي ځواکونو ماتې ور په یاد کړې او ویلي دي ،چې دغه اوږده جګړه نوره د ګټلو نه ده.

(پاول آر پیلر) وایي چې اوس هم یو شمېر امریکایي سناتوران د نورو پوځیانو پر لېږلو ټینګار کوي، په داسي وخت کې چې همدا جګړه د اوباما په وخت کې تر سل زره زیاتو امریکایي عسکرو ونه ګټلای شوه.

نوموړی وایی چې افغانانو تل د بهرنیو ځواکونو سره مزاحمت کړی او د وسله وال مقاومت لاره یې خپله کړې، ځکه باید داسي فکر ونه کړای شي؛ تر څوچې امریکا په افغانستان کې موجوده وي، افغانان به ارام نه کښینې!

لیکوال کارې :چې روسیه په افغانستان کې نهه کاله او پنځوس ورځي وروسته پوه شوه، چې ماتې یې خوړلې، باید دغه هیواد نور پریږدي، خو امریکا تر پنځلس کاله وروسته هم ضد کوي.

نوموړی وایی :چې افغانستان د امپراطوریو په هډبړې پیژندل کیږي!! ددې تر مخه چې د امریکا مړي په کښې خښ کړای شي، ژر تر ژره دې له افغانستانه پښې سپکي کړي او افغانستان دي افغانانو ته پرېږدي.

دا زیاتوي: افغانستان د افغانانو دی، باید د امریکا ونه بلل شي او نه باید نور مصارف او قیمتي عسکر په کښې له لاسه ورکړای شي....

بهرنیان چې هم افغانستان دامپراتوریواو استعمارګرانوپه هدیره پیژني! نو ددې څه اړتیا ده، چې نورهم امریکا افغانستان کې اشغال ته ادامه ورکوي ،اوس ددې وخت دی ،چې دوئ خپلې ګډې بار کړي اوافغانستان افغانانو ته پرېږدي، ترڅو دخپل برخلیک پریکړه پخپله وکړي .

اسلامي امارت چې دافغان ولس په استازولی او اصیل وصایت ددې هیواد،دین اوخپلواکی په ننګه دیرغلګرومقابلې ته ټټر وهلی ،مورچلونه یې ښه ګرم ،حوصلې یې لوړې او دولس په زړونو کې ژورې ریښې لري ،دبهرنیانوداشغال په مقابل کې جهادي تداوم اوداسلامی شریعت لپاره هلې ځلې یې هغه سپځلې آرمانونه دي، چې ترپایه یې په خوراکلک عزم تعقیبوي اوپدې لاره کې دستومانی احساس نه کوي ،نو اوس انتخاب دامریکایانو په لاس کې دی، چې دخپلو پوځیانو سالمیت اوژوند ته ترجیح ورکوي اوکه نه ددې غیرتي ولس په وړاندې دډیرو امریکایانودجنازو تابیا نیسي !!!

دافغانستان دبسپنو غله!!!

(بت شکن)

دميډيا په څپو کې له افغانستان سره دامريکا او نورو اروپايي هيوادونو دمرستو خبرونه په رنګينوسرخيو کې اوړې را اوړي ،کله دبن کنفرانس ،کله دلندن کنفرانس ،کله دتوکيو کنفرانس ،کله دبروکسل او کله په نورو پرمختللیو هيوادونوکې دافغانستان دمرستومالي او نظامي تمويل کنفرانسونه جوړشول او پکې هر هيواد بي خرته بسپنې او مالي کمکونه اعلان کړل ،مګرچې کله سړی افغانستان ته دقضاوت له عينکوګورې ،له څو سرکونو اوتعميرونو پرته دهيواد اقتصادي ښيرازې اود صنعت دپرمختګ يوه اساسي پروژه هم پکې نده رغول شوي ،نه پکې دصنايعو ،زراعت يا مالداری کومه خونه جوړه شوي اونه هم پکې کومه داسې فابريکه تراوسه جوړه شوه، چې ولس له نورو هيوادونو له خيراته غني او پرخپلو پښو ودروي .

افغانان دتيرځلورو لسيزو په شان اوس هم دسوال کچکول په غاړه کله له يوه او کله له بل هيواده خيرات غواړي ،ځوانان غريبې پسې بهرهيوادونوته په جوپو جوپو اوس هم روان دي ،کله بحرونو او سيندونوکې ډوب او کله دايران ،ترکيې او يونان هيواد نيولې اويا شهيدان کړي وي ،خو چې رسنۍ ګوري، ته به وايي ،چې افغانستان اوس يو سمسور هيواد دی ،فابريکي ،صنايع اوکمپنۍ پکې فعالې اوزراعت او مالداري يې دظاهرشاه له وخته هم ښه رغول شوي ده .

افغانان وايي چې دروسانو په تخنيکي مرسته هيوادکې دبريښنا ، اوبواو کانال پروژې دتمې خلاف ونه رغول شوې ،فکرکې کيده ،چې دامريکايانواو اروپايانوبي دريغه ډالر به يې ترميم او ددې نه په غير به نورې پروژې هم تعميرکړي ،ځکه ددوئ لښکرې چې راتلې ،نو شعار يې بيا رغونه او يو سوکاله افغانستان و،خو اوس هيڅ هم نشته ،دافغانستان دولايتونواو مرکز بريښناکوټونه هماغسي زاړه او خراب اودهيوادکليو کې خو برق بالکل نشته او ښارونو ته بريښناله ګاونډيو هيوادونو څخه دپيسو په بدل کې راورد شوي ده ،همداسې يې خوراکې توکې

هـم لـه بهرنيوګاونـډي ملکونـو څخـه راواردیـږي ،دراپورونوله مخې چې کله دې اواخرو کې پاکستان لـه افغانسـتان سره سرحـدي پـولې تړلـې وي، افغانستان کې دخوراکې توکيو بيه نيم په نيمه ختلې وه ،دلسو روپو شئ په شل اودشلو څلويښتوته ختلی وو،نودامريکاپه دومره بې خرتـه ډالـرو کـې دافغانـانو حال دادی، چې اوس هم ګدايي تـه ناست دي اود فقر او مسکنت له امله له نورو خلکو خيرات غواړي .

بل طرف ته دارګ دسيالانو،جنګي سالارانواو له خارجي مؤسساتوسره مرتبط عناصر په شراب وکباب کې عيش ونيش کوي اودژوند سطحه يې لـه اروپا سره برابره ده ،هر ه اوونۍ ددوبۍ ،پاريس او لندن چکرې وهي او په مستيو کې دومره ډوب دي، چې نه له خپـل ولس، نـه لـه هيـواد او نـه د پلـرني دين لـه مزاياوو خبر دي ،دوه ګـونې تابعيتونـه لـري ،اوددارو ملکونو حقوق ورته لاس ته ورځي ،چې څه ورته خپـل خارجي بـاداران ووايـي، پـه ټيټـو سـترګو يـې منـي او ځوړند سر يې مخکـې دخپـل ولس پـه وژلـو او خپـل وطن په پلرولو بوخت دي ، دچاسـينه کـې دعصـبيت ،ملیـت او قوميـت حـرارت لمبـي بليـږي او دچـا لـه مکروبي خـولې دسمت ، شمال او جنـوب ،پښـتواو فارسي بـوی راخيـژي ،ځـوک وطـن پلرونـې تـه نيـغ ناست دي او څوک دين پلرونـې اوملیـت فروشـۍ تـه بـډوې وهلـې ولاړ دي ،بـس ددې بيچـاره او کړيـدلې ولس دې خدای ج مـل او مـدد ګـار شي او خـدای ج دې يې کفالت وکړي !

همدغـه حقـايق دې وروسـتيوکې پخپلـه لـه امريکايي کارمندانو اوخارونکيو له خولو راووتـل، چـې له امله يې دافغانستان په نامـه راغلـې پيسـې ضـايع شوي او پر هيواد يې ټولې روپۍ ندي مصرف کـړي ،دسـيګار پـه نامـه دامريکـا دمرسـتو دځارمؤسسـې مشرپر وينا داټولې پيسې بيرته امريکايانو غـلا کـړي او له ځانونو سره يې وړي دي ،دنړيوالو رسنيو پروينا ددې مؤسسې مشر (جان ساپکو) دې وروسـتيو کـې د شمالي کرولاينا ايالت په ديوک پوهنتـون کـې وينـا کوله او ويې ويل چې له دغو پيسو څخـه د غـلا کولـو لپاره امريکايي ځواکونو قـوي او پـيچلي پلانونـه جـوړ کړي او تطبيق کړي چې پر اساس يې ډيـرې پيسـې خپلو جيبونو ته اچولي دي.

نوموړي زياته کړه چـې تنهـا د امريکـا پـه يـوه ايالـت (شـمالي کارولينـا) کـې لـه ميشـتو امريکـايي عسکرو او قراردادیـانو څخـه د تحقيقـاتو پـر مهـال د ۲۷.۷ ميليون ډالرو په ارزښت غلاګانې کشـف شـوي دي.

دا پـه داسـې حـال کـې ده چـې د (سـټار اينـډ سټريس (امريکايي ويب پاڼې د غلا يوې قضـيې تـه اشاره کړې چـې ځلـورو امريکـايي عسـکرو پـه جعلـي اسنادو له امريکايي پوځ څخـه تيـل ترلاسـه کـړي او بيا يې په تور بازار کې خرڅ کړي او لـه دې لارې يـې تر ۱۰ ميليونه ډالـرو زيـاتې پيسـې لـه سـتوني تبـرې کړي دي. نوموړې ويب پاڼې د غلا بله قضـيه داسـې بيانوي چې د سري ځانګړو ځواکونـو دوه عسـکرو لـه سختو کوښښونو وروسته له يـوې تعميـراتي پـروژې ۲۱۵۰۰۰ ډالره غلا کړي او بيا يې په امريکا کې خپلو ميرمنو ته په بندو پاکټونو کې استولي دي.

د امریکایي سرچینو د څېړنو پر اساس، هغه پیسې چې افغانستان ته د مرستو لپاره راغلي او بیرته د امریکایي عسکرو جیبونو ته لویدلي، شاوخوا ۱۱۷ بیلیونه ډالرو ته رسیږي.

د سیګار امریکایي اداري مشر- (جان ساپکو) وایي چې» په یو کوچیني هیواد کې په ډیر لږ وخت کې زمونږ بې دریغه مالي کومکونو له افغانستان څخه د نړۍ مفسدترین هیواد جوړ کړ. نوموړی زیاتوي چې امریکا د افغان ځواکونو په روزلو ۷۰ بیلیونه ډالره ولګول خو په وینا یې، لا هم دغه ځواکونه د دې جوګه نه دي چې په خپلو پښو ودریږي.

جان ساپکو وایي» :تېر کال افغان ځواکونو د طالبانو په مقابل کې یوازې همدا کړي چې د (مورک ته ډب) په لوبې یې وخت تېر کړي] .

دا هغه لوبه ده چې لوبغاړی د یو ګڼ سوري صندوق مخې ته څټک په لاس ولاړ وي او مصنوعي مورک ته انتظار باسي چې له کومې سوړې راوځي ترڅو تري ډب پورته کړي.«[

د سیګار مشر زیاتوي چې افغانستان ته یې شل سفرونه کړی او د نورو خلکو په شان دی هم دغې نتیجې ته رسیدلی چې فساد او کمزورې رهبري د دولتي ځواکونو د پخ فعالیت جړې تشکیلوي.

نوموړی د امریکایي ځواکونو پر غلاوو سربېره د افغان ځواکونو لیکي هم له فساده ډکې بولي او په وینا یې داسې شواهد یې موندلي چې افغان ځواکونه خپلې امریکایي وسلې او مهمات په طالبانو خرڅوي.

ساپکو د دولتي ځواکونو په لیکو کې د خیالي عسکرو ستونزې ته په اشارې زیاته کړه چې لسګونه زره عسکر په عملي ډګر کې شتون نه لري خو معاشات یې غلا کیږي او د قومندانانو جیبونو ته ځي.....

د سیګار مشر- وایي: چې امریکایانو له افغانستانه (۲۷.۷میلونه ډالر غلاکړي ،خو نور راپورونه یې بیا غلا تر (۱۱۷)بیلونه ډالره تخمینوي،دسیګار مؤسسې اظهارات پخپله ددې ډاګیز سند دی، چې دافغانستان په نامه راغلې پیسې په عمومي صورت پخپله ددوئ دپوځیانو له خوا غلاشوي او اصلاً په هیواد ندې لګول شوي ،دوئ چې هسې دافغانستان دبیا رغونې او تعمیراتي چارو دتنظیم چیغې وهې ،یوازې ددې لپاره دي، چې خلک پرې تیرباسي ،نه ددې لپاره چې زمونږ دوران هیواد په ویجاړیدو غمجن دي اودوئ ګوندې دزړه له کومې ورسره مېنه او علاقه لري .

امریکایان صرف ددې لپاره راغلې ،چې ښکیلاک یې دآمو هاخوا هیودونه تر خپل فشار لاندې ونیسي، نو ځکه یې ددې لپاره ډول ډول حیلې او بهانې جوړې کړي او ځان ته یې دیرغل یو نړیوال مجوز پیدا کړ،که نه حقیقت هرچاته ډیر روښانه او برملا دی ،دوئ نه دافغانستان په غم کې مړه دي ،نه افغان قام باندې دردمن دي او نه ددې وران هیواد داعمارلپاره دخپل هیواد بودیجه مصرفوي ،دوئ غواړې چې دهیواد معدنیات اوکانونه غلا کړي او دهیواد جیولوجیک سمسور او غني سینه خالي او له ځانه سره یې یوسي !

په افغانستان کې

د(اپریل پول) احمقان څوک دي؟

خلیل ـ عزیز

دتیرو١٦ کلونوپه اوږدوکې امریکایانو او غربیانو په باشرفه افغاني ټولنه کې دډول ډول بې بندوباریو اوبې حیاییو دترویج هڅې وکړې ترڅو افغاني مزایاوي اوارزښتونه وڅپي ،دیني اوملي رنګ اوصبغه ورڅخه کډه کړي اوڅوک چې ددین ، غیرت ، ننګ اوناموس خبري کوي هغه ورسته پاته ،تنګ نظری اودجامعي دپرمختګ دخنډپه توګه معرفي کړي.

امریکایان اوغربیان پوهیدل اوپوهیږي چې افغانان په نړۍ کې هغه ملت اوولس دی چې دعفت ، شرف اومیړاني دنګ منارونه اورون تاریخ لري ، دهمدغوویاړونوله کبله افغانانو تل خپله خپلواکي اودیني هویت ساتلي اواغیاروته یې دامجال په لاس کې ندی ورکړی ترڅو پرې وبلوسي اوکه چادغه جرات کړی نودروند اوتاریخي زیان اوشکست یې لیدلی.

له څه باندي یوی نیمي لسیزي راهیسي- دبهرني ناولي کلچر د عامولو په موخه هغوزرګنورسنیوزیات رول ولوبوو چې امریکایان یې مخامخ تغذیه اوتمویل په غاړه لري.

ویل کیږي چې هرکال امریکایان، هندوستان اوځیني غربي هیوادونه ٢٠٠ میلونه ډالر په هغو تلویزونو، راډیوګانو او نورو رسنیزو سرچینو مصرفوي چې دنده او مکلفیت یې دباعظمته افغاني فرهنګ توهین او ټکول دي.

متاسفانه دغه پردی پاله سرچینې تریوبریده بریالي شوي چې دخپلوتالیځټولیکوالو او اسلام دښمنه رسنیوپه واسطه دافغانستان په پلازمینه کابل اویوشمیرنوروښارونوکې خپل لویدلی اوپرسوده کلچر، اصطلاحات اولیدلوری تریوې اندازي پورې دځان په خوا واړوي.

له نوروبیلګوبه تیرشودهمدې روانې میاشتې (اپریل) دپیل ورځ چې امریکایان اوغربیان ورته داحمقانو ورځ وایې دکابل بې

حیاوو اواجیرو رسنیودغه ورځ اومناسبت شه په خرپ بدرګه او ونمانځه.

ویل کیږی داپریل ږومبی ورځ ځکه داحمقانو په ورځ مسمی شوي چې دکاتولیکانو۱۳ «پاپ ګریګوری » په کال ۱۵۸۲ م کې په دې بریالی شو چې دروم له پاپانو څخه دمیلادي کال دجنتري ږومبی ورځ د (اپریل) پرځای دجنوري میاشت ته راواړوي، ویل کیږی چې ترډیره وخته یوشمیرخلکو دنوي کال دپیل ورځ داپریل ږومبی نیټه کارولە همدې وجې څخه د اپریل نمانځونکو ته داحمقانو خطاب وشو چې ګواکي په غلطه يې جنتري کارولي وه .

اوس داپریل ږومبی ورځ هرکال غربیان له سهاره تر ماسپښین پوري په اصطلاح په دروغو تجلیلوي او هڅه کوي چې څومره يې په وس پوره وي دروغ ووايي او بيا دورځي په پاي کې چې چا زیات دروغ ویلي وي نو هغه ته مبارکي ورکوي اوداپریل پول لوی احمق يې بولي.

سږکال دکابل ګڼ شمیر ورځپاڼو او برښنایي رسنیوهم دنومورې ورځي دتجلیل په مناسبت دپاڼوپه سرخیوکې ګڼ شاخداره دروغ اواوتي بوتي ځای کړي وي اوخپلوبادارانوته يې ثابته کړه چې دوئ غواړي ځانونه داحمقانو په کتار کې درج اوثبت کړي .

خوجالبه خبره یاتصادف داوه چې دکابل ګڼوورځپاڼو په خپلو اولو مخونوکې داپریل پول دلویو درواغجنو په کتارکې دکابل رژیم دوینديانو غټ غټ عکسونه راوړي وو اومخاطب کړي يې وو چې دوئ دکال اوږدوکې تربل هرچا ډیر دروغونه اواکاذیب ویلي دي اطلاعات روز ورځپاڼي ددفاع وزارت ویندوئ (دولت وزیري) له عکس سره داخبرپه لوړوټکولیکلی وو چې دهلمند سنګین ولسوالی اوس هم داردو په لاس کې ده او یوه لویشت هم ورځخه ندي په شاشوي .

ورځپاڼي لیکلي وو چې دوزیري دادروغ دومره صریح او سپین سترګي دی چې بائیدلوړمډال ورکړل شي او داپریل پول داحمقانو په سرکښانوکې راشي،ځکه طالبانو

نوموړي ولسوالی ونيوله اواوس يي هم په واک ده.

دغه راز هشت صبح بيا داپريـــل پـــه اولـــه ورځ دکورنيوچـارو وزارت دويانـد (صـــديقي) هغـــه وينـــا پـــه اصـطلاح بـه قلـم درشـت را اخيســـتي وه چـــې (کشـــور پاکستان جرات نـدارد کـه بـه خـاک افغانسـتان يک فير شليک هم بکند (ورځپاڼي په تبصره کې ورتـه لـيکلي وو : پاکسـتان پـه تيـره مياشـت دافغانستان په کنړ ولايت باندي ۸۰۰ توغنـدي وارکـړل اوداخـبره دکـونړ ولايـت مسـؤلينو هـم ومنله ، خو چې دکورنيو چارو وزارت ويندوی په دغو۸۰۰ توغنديو سترګي پټوي، نو ښکاري چې نومـوړي زيـار بـاسي چـې داپريـل پـول پـه ورځ ددروغجنورکاړ مات کړي اوپه څو لحظو اويـوه جمله کې برابر ۸۰۰ دروغه کتار ودروي.

ځينورسنيوبيا ويلي و چې دجان کيـري پـه طرحه اوډيزاين راغلي رژيم لـه ولسمشره نيـولي تراجرايه رئيس او رالاندي چارواکو پوري يې ټول کال بيساري دروغ ويلي هـره خـبره اووعـده يـې چـې ولـس سره کـړي هغـه تـــشي اوتي بـوتي ګرځيدلي اويوه ژمنه يې هم نده رښتياشوي!!!

بهرحـال دروغ وئيـل اوخپـرول چـې پـه شريعـت کـې لويـه ګنـاه بلـل کيـږي اوحتـی دروغجن دالله تعالی له لوري ملعـون بلـل شـوی خودکابل رژيم دويندويانو اوچارواکو اوس دروغ ويـل اونـــشرول يـوه مشـغله اوحرفـوي صـنف ګرځيدلي ،تردي وړاندي افغانان نه پوهيدل چې دغـه ذليـل رژيـم ولـې دومـره دروغ وايـي اوخجالت هم نه پـرې بـاسي ،اوس ددې خـبري درک ولګيد چې هغوئ داهرڅه داپريل پـول پـه خـاطرکوي ترڅـو يـې نومونـه دنـړی پـه لويـو احمقانو اودرواغجنو کـې شـمار اوحسـاب کـړل شي اودکـاتوليکي کليسـاوو دپاپـانو پـه وړانـدي خپلې نمبري اوچتي کړي.

***

د جهـاد فقهي مسـائل

(۳۷بـــرخـه)

مفتي ابومحمد (حقاني)

کفارو سره د جګړې د اختتام اسباب:

اســلام منل، جــزیه ورکول، یا ســوله!

دسولې دتړون دنقض اسباب !

څلورم سبب: دمسلمانانو دامام لخوا دسولې دتړون نقض کول او هغو محاربینو تـه ،چې سـوله ورسره شوي وي، دسولې دنقض خبر ورولیږل شي .

داهغـه وخـت دی ،چې دوخـت امـام دسـولې دتـړون نقـض دسـولې نـه ډیـر اصـلح وګنـي، البتـه داداحنافو فقهاوو رح په نزد جـایز ده او نـور پکـې کلام کوي .احناف فقهاء رح فرمایي :چې که چیرتـه دمسلمانانو امیر له اهـل حربـو سره سـوله کـوي ،او دسولې تړون دمسلمانانوپه خیر او مصـلحت وګنـي، اوله اهل حربو سره یې سوله وکړه تړون یـې ورسره لاسلیک کړ،نو بیا یې وروسته تردحالاتولـه مطـالعې ،تـدبراو فکرنـه وروسـته ددوئ سره دسـولې تـړون دمسلمانانو په زیان او شر وباله، نو دې صـورت کـې دې معاهدینواهل حربو ته دسـولې دماتیـدو اطـلاع ورکړي او قتال دې ورسره وکړي ،لکـه همـدا مسـئله په (فتـاوی هندیـه ،مسـبوط دامـام سرخسي- اوتبیـین الحقـــایق شرح کنزالـــدقایق) کـــې ذکرشـــوي او(الموسوعة الفقهية) ترې داسې رانقل کړي : صَرَّحَ الْحَنَفِيَّةُ بِأَنَّهُ لَوْ رَأَى الإِمَامُ الْمُوَادَعَةَ خَيْرًا فَوَادَعَ أَهْلَ الْحَرْبِ ثُمَّ نَظَرَ فَوَجَدَ مُوَادَعَتَهُمْ شَرًّا لِلْمُسْلِمِينَ نَبَذَ إِلَى مَلِكِهِمُ الْمُوَادَعَةَ وَقَاتَلَهُمْ (المبسوط للسرخسي- ۱۰ / ۸۷ ، والفتاوى الهندية ۲ / ۱۹۷ ، وشرح السير الكبير ۵ / ۱۶۹۷ ، تبيين الحقائق ۳ / ۲۴۶) .

دســولې دتــړون دنقــض نــه وروســته معاهدین خپلې سیمې تـه رسول :

کله له محاربینو سره دسولې تړون دامـام لخـوا نقض شو،نو بیا به هغه اهل حرب معاهدین، چې پـه دارالاسلام کې اوسیږي ،وجوباً خپل وطن یـا دسـولې سیمې ته ورسول شي، البته که په چا دکوم بل چا حق وو ،یا پرې حدقذف وواو یاپرې قصاص وو،هغه بـه ترې واخستل شي او بیا به خپـل مـأمن یـا مسـکن تـه ورسول شي، چې ددې مسایلونور تفصیل پدې حوالـو کـې لیکـل شـوي دی (روضـة الطـالبین ۱۰ / ۳۳۸ ، ومطالب أولي النهى ۲/ ۵۹۱

دشوافعو حضراتورح په مذهب واجب داده، چې دا معاهد کافران پداسې حال کې خپل وطن ته ورسول شي چې دمسلمانانو ساتونکې ورسره وي ،دشوافعو علماوو رح نه (ابن کج)فرمايې: چې ضرور نه ده، چې خامخا دې دا کافران خپل وطن اصلي ته ورسول شي، بلکې دومره هم کافي ده، چې ددارالحرب لومړني ښار ، سرحد او لومړنۍ سيمې ته يې ورسوي ،البته که ددارالحرب ددې سيمې او دده دخپل اصلي وطن ترمينځ دارالاسلام وو، نو بيا به يې مأمن اصلي ته رسول واجب وي او (امام نووي رح دبحرالرايق) په حواله کاږي : که چيرته ددې معاهد کافر دوه هستوګنځايونه وو،نو بيا په امام المسلمين باندې واجب دي،چې يو ددې دواړو هستوګنځايونو ته يې ورسوي او که دا دواړو کې اوسيده ،نوبيا دامام اختيار دی چې هريوه ته يې رساوه / روضة الطالبين ۱۰ / ۳۳۸ـ ۳۳۹ .)

دکفارو لخوا دسولې دټرون دنقض حالات:

که چيرته دسولې ټرون دکفارو لخوا نقض شو،نو يابه ددې ټرون نقض دټولو کفارو لخوا وي يابه دبعضو لخوا، که چيرته دټولولخوا يې نقض وشو،نو دمسلمانانو لخوا هم له ټولوسره ټرون مات او ددوئ دځان او مال مصئونيت ختم شو،که چيرته دبعضو کفارو لخوادسولې معاهده نقض شوه، نو دانوربعضي کفاربه ددرې حالاتونه خالي نه وي، يابه يې پرې خپله خوشحالي او رضا څرګنده کړي وي ،يا چوپتيا او يابه يې بد او مکروه ګڼلی وي ،که چيرته پرې دې بعضو نورو رضا ښکاره کړه، نوکه چيرته يې پرې په قول او فعل کې رضا ښکاره کړه ،نوددوئ ټولوسره دمسلمانانودسولې معاهده ماته شوه اودټولوکفارو يو شان حکم شو او چيرته پرې نورو بعضو نه رضا اونه کراهيت ښکاره کړ، بلکې سکوت يې پرې وکړ،نو داسکوت يې دعقد دماتيدو سبب شو او دټولوسره معاهده ختمه شوه ، دلايل يې دا آيتونه دي { وَاتَّقُوا فِتْنَةً لا تُصِيبَنَّ الَّذِينَ ظَلَمُوا مِنْكُمْ خَاصَّةً } (سورة الأنفال / ۲۵ .) ، همداسې دالله تعالى سنت دصالح عليه السلام دناقې (اوښې)دعاقر او جاني په هکله همداسې دي،چې ددې جنايت ارتکاب مباشرةً (احيمريا قداد بن سالف)وکړاو نور قوم ترې امساک وکړ،دايې منعه نه کړ،نو الله تعالى دا ټول قوم پدې جنايت ونيواو معذب يې کړ، لکه چې الله تعالى فرمايي : { فَكَذَّبُوهُ فَعَقَرُوهَا فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ بِذَنْبِهِمْ فَسَوَّاهَا وَلا يَخَافُ عُقْبَاهَا } (سورة الشمس / ۱۴ ـ ۱۵ .)

همداسې رسول الله صلى الله عليه وسلم له(بنو نضيرو) سره دسولې ټرون لاسليک کړ،خو بعضو يې دقتل اراده وکړه، نو غزايې ورسره وکړه او جلا وطن يې کړل ،همداسې (بنوقريضه وو) سره رسول الله صلى الله عليه وسلم دسولې معاهده کړي وه، خو ددوئ بعضو له (ابوسفيان) سره دخندق په غزاکې درسول الله صلى الله عليه وسلم خلاف جنګ کې برخه واخسته ،ځينې وايې دوئ درې کسان وو، چې يو پکې (حيى بت احطب) و،خو رسول الله صلى الله عليه وسلم ددوئ ټولو خلاف غزاوکړه ،

ايشتونکې (رماة) يې ترې مړه او ماشومان يې بنديان کړل ،همداسې رسول الله صَلَّىٰٱللَّهُعَلَيۡهِوَسَلَّمَ (حديبيه) کې له قريشوسره سوله وکړه (بنوبکر) دقريشو حليفان او (خزاعه)درسول الله صلى الله عليه حليفان وو،نورسول الله صلى الله عليه وسلم ددوئ قريشو دټولولپاره دعهد نقض وبالـه ،نو غزايې ورسره وکړه،ورپسې ورغى، ترڅو چې مکه مکرمه فتحه شوه ،نودا ددې دلايل دي ،چې دبعضو چوپتياددوئ معاهدې دنقض سبب ګرځي .

اوکه چيرته بعضو ټرون نقض او بعضو نورو پرې کراهت ښکاره کړاو نارضايتي يې پرې وښوده ،نو دې صورت کې دسولې ټرون يوازې دناقضينو په مورد کې مات دى او ددې نورو سره پر ځاى دى .لاندينو کتابونو کې دا مسائل په تفصيل سره شته کولاى شو چې ددې مسايلو په باب لاندينې کتابونه راواړوو: (تبيين الحقائق ٣ / ٢٤٦، شرح السير الكبير ٥/ ١٦٩٦ ـ ١٦٩٧ ، الحاوي ١٨ / ٤٤٠٤٤٠ ـ ٤٤١ ، المغني ٨/ ٤٦٢ ، حاشية الدسوقي ٢ / ٢٠٤ ـ ٢٠٦، جواهر الإكليل ١ / ٢٧٠ . روضة الطالبين ١٠/ ٣٣٨ ، مطالب أولي النهى ٢ / ٥٩١ ، المغني ٨/ ٤٦٢١ ، البحر الرائق ٥ / ٨٦ ، بدائع الصنائع ٧ / ١٠٩ ـ ١١٠.

دمورچل مجلې په تيرو ګڼو اودفقهي جهادي پانوکې د(جهاد فقهي مسائل) تر سرليک لاندې په پرله پسې لړۍ کې دا خبره څرګنده شوه، چې څرنګه چې ديوه اسلامي حکومت لپاره جهاد يو اهمه فريضه اومهم رکن دى، نو همداسې دضرورت او مصلحت پر وخت دمسلمانانو مشرتابه کولاى شي،چې داهل حربو ،اهل کتابو ، باغيانو او باغيانو سره دسولې لنډ مهاله او يااوږدمهاله (طويل المدت) ټرون وکړي او دې کومه قباحت په شرعي لحاظ نشته، البته خپل خپل شرايط اواحکام لري، چې دهغې په مراعاتولوسره دسولې کول جواز لري او حتى که چيرته دمسلمانانودزيان ،تلف او استهلاک خطر و، نو بيا پدې وخت کې دمسلمانانوپه امام باندې واجب ده، چې ددې مسلمانانودنجات په خاطر له دښمن سره دسولې ټرون لاسليک کړي او مسلمانانوته نجات ورکړي ،نولذا که چيرته اسلامي او جهادي حرکتونه يا حکومتونه کوم داسې اړين اقدام کوي، دا په شرعي لحاظ کوم نامشروع او ناجايز کار ندى ،بلکې داسلام تعليمات همداسې دي ،چې رسول الله عليه وسلم جهاد هم کړى او سوله يې هم کړي، همداسې خلفاء راشدينو رَضِيَٱللَّهُعَنۡهُمۡ هم دادواړه کاره دضرورت په وخت کې کړي ،نودضرورت پر وخت نه سوله جرم او ګناه ده او مذکرات کوم قبيح شرعي دى ،البته داکارونه دوخت دامام صلاحيت اودمسلمانانود مصلحت عامه پورې تعلق لري ،په انفرادي ډول يې بيا احکام جلا اوداسې نه دي.

(والله اعلم)

۲۳ زره حملي
او د لسګونو ولسوالیو سقوط

أبوعابد

۱۳۹۵ هـ ش کال پای ته ورسید او ورسره د کال په اوږدو کې د پوځي وضعیت د تحلیل او ارزولو په مقصد د راپورونو او ارقامو د خپرولو لړی هم پیل شوه.

په دې لړ کې سږ کال تر ټولو جالب او د پام وړ راپور د ګوډاګي رژیم ددفاع وزارت له خوا خپاره شوي ،هغه ارقام دي ،چې د تیرکال د نظامي وضعیت انځور وړاندې کوي.پخوا به د کابل رژیم په رسمي توګه دا نه منله چې د مجاهدینو تر پوځي فشار لاندې دی او یا دا چې د مجاهدینو د بریدونو ګراف له کمي او کیفي اړخه لوړ تللی دی. مګر په تیر کال چې جهادي بریدونه د پخوا په نسبت کم سابقه وو نو دښمن یې هم دې ته اړیوست چې د مجاهدینو د حملو ډیرښت ومني.

د ۱۳۹۵ لمریز کال په وروستۍ ورځ د ګوډاګي رژیم د دفاع وزارت ویاند دولت وزیري رسنیو ته خپل کلنی راپور خپور کړ . په دې راپور کې دښمن اعتراف کړی ،چې په تیر کال کې د مجاهدینو بریدونه د هرکله په نسبت زیات و او ډیرې سیمې مجاهدینو نیولې یا د سقوط له خطر سره مخ کړي دي.

په دې راپور کې راغلي چې په تیر کال کې د اسلامي امارت مجاهدینو د یرغلګرو او د هغوی د ګوډاګیانو په ضد ۲۳ زره عملیات چې جبهه یي تعرضي بریدونه، چریکي حملې،فدایي بریدونه، انفجارات او د درنو وسلو حملې پکې شاملي دي تر سره کړي دي چې له املـه یې اشغالګرو او د هغوی ګوډاګیانو ته د سر او مال درانه زیانونه اوښتي دي.

د دفاع وزارت په راپور کې راغلي چې د اسلامي امارت مجاهدینو تیر کال د ۹ ولایاتو مراکز د سقوط له خطر سره مخامخ کړل چې له دې جملې د کندز مرکز د مجاهدینو لاس ته ولوید دغه راز د ګنبو نورو ولایاتو مراکز لا هم د محاصرې په حالت کې قرار لري او د سقوط له ګوابښ سره مخامخ دي. په ولایتي مراکزو او ولسوالیو سربیره د کابل رژیم د اعتراف له مخې مجاهدینو په تیر کال کې د افغانستان د دریو

مهمو لویو لارو د بشپړ نیولو هڅه هم کړې او ددې لارو په اطرافو کې یې نفوذ زیات شوی دی.

د دفاع وزارت د راپور سره هم مهال د ګوډاګي رژیم د کورنیو چارو وزارت هم یو راپور نشر کړی چې په کې د حکومت د داخلي پاشل کیدو او د حکومت تر واک لاندې ښارونو کې د امنیت د نور خرابیدو له رازه پرده پورته شوې ده.

په دې راپور کې راغلي چې په تیر کال کې د کابل او نورو ښارونو امنیت د پخوا په نسبت خراب شوی دی. د کال په جریان کې د حکومت تر واک لاندې ساحه کې ۲۰۳۷۴ جرمي پیښې ثبت شوي چې اکثره یې د غلا، قتل او لوټمارۍ اړوند دي.

بل اړخ ته په دې وروستیو کې یو شمیر نړیوالو رسنیو د افغانستان د ولسوالیو د وضعیت اړه یوه احصائیه خپره کړه چې په کې د افغانستان د ټولو ۴۰۷ ولسوالیو وضعیت تحلیل شوی دی. ددې راپور له مخې همدا اوس د اسلامي امارت مجاهدین د افغانستان په ۳۴۹ ولسوالیو کې حضور لري. ددې ۳۴۹ ولسوالیو له جملې ۴۳ ولسوالۍ په بشپړ ډول د مجاهدینو په ولکه کې دي او دشمن په کې هیڅ ډول شتون نلري او ۱۶۷ ولسوالۍ بیا له ۴۰ فیصده نیولې تر ۹۹ فیصده د مجاهدینو تر تسلط لاندې دي چې ددغې کټه ګوری ولسوالیو په اکثرو کې دښمن یوازې د ولسوالۍ د مرکز په چاردیوالي کې شتون لري یا په یوه لرې پرته دښتې قرارګاه کې یې اړولي وي او د سیمې په اولس هیڅ اغیز نلري.

په باقي پاته ولسوالیو کې هم مجاهدین حضور لري خو حضور یې تر دې حده نه دی چې د ولسوالۍ په اکثره اراضي دوامدار کنترول وساتي. په دې حساب نو ویلی شو چې د یرغلګرو په خلاف جهاد د افغانستان ټولو سیمو ته پراخ شوی دی او اوس دښمن د هیواد په هیڅ برخه کې هم د ارام ساه نه شي اخیستلای.

په افغانستان کې د یرغلګر کفر په وړاندې د مسلح جهاد لوړ وړاندې شوی تصویر ډیر امید ښیونکی دی چې له یوې خوا د مجاهدینو د حملو او تهاجماتو په لوړ ګراف دلالت کوي او له بلې خوا دا خبره څرګندوي چې د هیواد زیاتره ساحه اوس د یرغلګرو او ګوډاګیانو له خبث څخه تصفیه شوې او د اسلامي نظام تر سیوري لاندې راغلې ده.

راتلونکي کال ته امید دی چې الله تعالی له مجاهدینو سره نور هم خپل نصرت شامل حال کړي. نورې سیمې به هم د کفارو او د هغوی د ګوداګیانو له شتون څخه تصفیه شي او د فتحو لمن به نوره هم وغوړیږي.

وما ذالک علی الله بعزیز

فتح سنگین،

ضربه سنگین بر پیکر دشمن

(سعید بدخشانی)

تداوم امواج خروشان عملیات پیروزمندانه عمری با تلاش های مستمر وخستگی ناپذیرمجاهدین شجاع وهماهنگی های گسترده میان فرماندهان سپه سالار نظامی امارت اسلامی،از آغاز تا به مراحیل بعدی دست آوردهای شگفت آور وسرنوشت سازی را برای ملت متدین وحرکت اسلامی طالبان به ارمغان آورد.

در جریان سرعت عملیات <عمری> مراکزبسا مهم، واحدهای اداری، قرارگاه ها وبیس های استراتیژک با بخش عظیمی خاک میهن اعم از جنوب،شرق،غرب وشمال کشوراز وجود نا پاک اشغالگران کفری وجیفه خواران داخلی شان تصفیه،وضربات سنگین ومهلکی برماشین جنگی و پیکر پلید دشمن وارد ساخته شد.

پیامدهای عملیات ظفرمند وسترگ<عمری> با ایثار گری رزمندگان اسلام ،وحشت شدیدی در دل نیروهای ناتو وغلامان وفادار آنها تولید نمود وبرشکست ناپذیری استکبار جهانی(آمریکا)خط بطلان کشید وعنصر- مقاومت،معنویت ودلیری مجاهدین را آشکار ساخت.

برعلاوه که مراحیل نخست واواسط عملیات کمرشکن عمری منجر به فتوحات برخی ولایات گردید،قطار های نظامی، اکمالاتی وکمکی دشمن نیز در نتیجه حملات تهاجمی مجاهدین حریق ویاهم بغنیت درآمد،در فصل زمستان نه تنها که عساکر جبون تحرکاتی انجام داده نتوانستند بلکه برعکس مناطق مهمی دیگری را به نیروهای جانثار امارت اسلامی واگزار کردند.

نظامیان اداره دست نشانده کابل در سرمای امسال عملیات های نمایشی وسمبولیکی را تحت نام های (شفق یک)و(شفق دو) بغرض خوشحال ساختن باداران خارجی واخذ چند دالری دیگر، صرف برای نام اعلام داشتند اما در عمل جز تلفات، زیان،

خارجی واخذ چند دالری دیگر، صرف برای نام اعلام داشتند اما در عمل جز تلفات، زیان، خساره وشکست فلاکت بار، دست آورد دیگری نداشتند.

بلی سقوط سنگین بدست سپاهیان امارت اسلامی شأن وشکوت بریتانیا وامریکا را شکست، سنگین منطقه ای استراتیژیکی بسطح هلمند محسوب می شود که هزاران عسکر کشور های اشغالگر کفری را در بطن خود بلعیده است.

روزنامه وال ستریت ژورنال در مورد سنگین چنین می نگارد: سنگین ولسوالی می‌باشد که قوای امریکایی و بریتانوی از آغاز جنگ در افغانستان در سال ۲۰۰۱ به اینسو سنگین‌ترین تلفات را در آن متحمل شده‌اند. تلفات قوای ناتو در سال ۲۰۱۰ در این منطقه به اوجش یعنی ۳۰۰ نفر رسید.

به نوشته واشنگتن پُست قوای ناتو این جنگ را به جنگ کوریا شباهت دادند و سربازان بریتانوی این جنگ را بنام "سنگین گراد" یاد می‌کردند که آنرا شبیه نبردهای شدید در جریان جنگ جهانی دوم در ستالین گراد شوروی سابق می‌دانستند.

واقعاً فتح سنگین،بریتانیا و واشنگتن را بشدت تکان داده است حتی برخی تحلیل گران وروزنامه نگاران غربی بدین باورند که سقوط سنگین نشانه ای بارز به برگشت طالبان به کابل میباشد.

لله الحمد سلسله پیشروی ها وفتوحات مجاهدین بیش از پیش تسریع یافته است وهمه روزه حلقه محاصره بردشمن را تنگتر می سازد،که با این حال رژیم کابل نهایت سراسیمه وحواس باخته شده اند که پس از تسخیر قبرستان اشغالگران(سنگین)از سوی سپاهیان اسلام،لشکرگاه نیز سقوط خواهد کرد وبهمین منوال اداره دست نشانده کابل قلع ومضمحل می شود.

من با اطمنان کامل خدمت شما خوانندگان عزیز بعرض می رسانم که ،با فتح ولسوالی سنگین ضربه مستحکم وسنگینی بر پیکر کفار واجیران داخلی شان وارد گردیده است، دیگردشمن تاب مقاومت در برابر مجاهدین را از دست داده اند وان شاءالله العزیز عنقریب است که قوّت ها ونیروهای جانباز امارت اسلامی وارد شهرهای بزرگ کشور وبه ویژه داخل لشکرگاه،کندهار،ترینکوت و.....گردیده وپرچم پرافتخار مزّین با کلمه توحید بر فراز دوایر دولتی در اهتزاز خواهد شد.

وماذلک علی الله بعزیز



سنګين يرغلګرو ته سنګين ګـــراد شـــو !

د سيد شريف په قلم

د اسلامي امارت قهرمـانو مجاهـدينو دهلمنـد ولايت د سنګين ستراتيژيکه ولسوالي په بشپړه توګـه فتحه کړه،سـنګين دهلمنـد د پـراخ مسـاحت او ګـڼ نفوسه ولا يت د شـمال طـرف دروازه ګڼـل کيـږي،د سنګين په نيولو سره د مجاهدينو دحاکميـت سـاحه نوره هم پراخـه شـوه،دکندهار او هلمنـد د مختلفـو سيمو سره دمجاهـدينو د تـګ راتـګ لاري پرانسـتل شوې او دسنګين په سـقوط سره دښـمن نـو رهـم محصور، کمزورى او مايوس شو.

تېـره لسـيزه کـــي يرغلګـرو امريکايـانو او انګريزانو دکابل رژيم دوسله والـو پـه همکـارۍ پـه سنګين کي ډير زيات او سـخت عمليـات وکـړل، پـه زرهاوو ملکي هيوادوال يې شهيدان، ټپيان او بنـديان کړل، خو دهر څومره زور او وحشت کارولو سره سره ونه توانيدل چي مجاهدين غـلي کـړي، سـنګين کـي دخونړيو او اوږدو جګړو په جريان کي پـه وار – وار دولسـوالۍ زيـاتره سـيمي دمجاهـدينو او يرغلګـرو ترمنځ لاس په لاس شوې او څو ځله خـو مجاهـدينو دولسوالۍ مرکز هم نيولى او بيرته خوشي کړى دى.

دسـنګين ولسـوالۍ زيـاتره اطـرافي سـيمي دمجاهدينو په واک کي وې،دولسوالۍ بازار او دولتي تاسيسات دکابل اداري سره پاته وو، مياشت مخکـي مجاهدينو دولسوالۍ پر مرکز تعروضي بريـد وکـړ،د برېد په پايله کي دولسوالۍ بازار او دولسوالۍ دمرکز او امنيه قوماندانۍ په لسهاوو دفاعي پوستې فتحـه شوې او دولسوالۍ پر مرکز،امنيه قوماندانې او پي ار ټي(بيس) دمحاصرې کړۍ راتاو شوې، دکابل رژيـم په ملاتړ يرغلګرو پـه سـيمه کـي سـخت بمبارونـه وکړل،ډير زيات ولسي وګړي د ښځو او کوچنيانو پـه ګډون شهيدان او زخميان شول، کورونه او مسجدونه ويجاړ شول، حتى د اشغالګرو د يوې شپې پـه بمبـار کي ۳۹ تنه ولسي وګړي شهيدان او ټپيان شول.

د اشـغالګرو د پراخـو هـوايې حملـو سره سره مجاهدينو نه يوازي داچي خپل سنګرونه خوشي نـه

کړل، بلکي هممهاله يې پر دښمن خپل بريدونه جاري ساتلي وو، دمجاهدينو داستقامت په پايله کي دښمن اړ شو چي د سنګين ولسوالۍ دمحاصرې ودانۍ او لوی بيس څخه د شپې دتيارې څخه په استفاده دهوا له لارې پښې سپکي کړي.

د ښمن د تيښتي څخه وروسته دولسوالۍ تاسيسات بمبار کړل،خو د بمبار سره سره ددښمن څخه پاته شوو وسايلو او وسايطو ته کم زيان ورسيد او په پراخه پيمانه غنيمتونه دمجاهدينو لاس ته ولويدل.دالاماره ويښپاڼي د راپور په اساس مجاهدينو په سنګين کي ۲۹ شوبلي،۱زغره وال ټانګ،۳۴رينجر موټر،۱ سراچه ډوله موټر، ۵کرولا موټر، ۱لنډ کروزر موټر، ۸تراکتوران، ۱بلډوزر، ۲دتيلو ټانکرونه، ۷ د برق ماشينان او په زياته اندازه مختلفي وسلې او مهمات غنيمت کړي دي.

د سنګين په پراخو او لويو جګړو کي که يرغلګرو او داخلي ملګرو يې افغان ولس ته د سر اومال زيات زيانونه واړول،خو دوی هم سنګين کي روغه ورځ ونه ليدله،دمجاهدينو په تعروضي بريدونو، استشهادي حملو،مځکنيو ماينونو او چريکي حملو کي يرغلګر دښمن او داخلي ګوډاګيان داسي وځپل شول، چي دسنګين د دښتو او شپلو چغالان او لېوان يې په غوښو ماړه شول او په هره ترخه او ونه کي يې دبدن غړي بند او ځوړند شول.

برتانوي اشغالګرو اعتراف وکړ چي سنګين کي يې تر ۱۰۰ ډير پوځيان وژل شوي- د يرغلګرو د مرګ ژوبلي کيسه هم هيوادوالو ته ښه معلومه ده چي ټانګ به يې په ماين کي ټوټې ټوټې شو او الوتکه به يې رانسکوره کړل شوه، خو دوی به اعلان وکړ چي په پيښه کي يې يو پوځي سر سري ټپي شوی چي بيرته خپلي دندي ته ستون شوی- په سنګين کي دمجاهدينو سختو بريدونو او حيرانونکو تکتيکونو دښمن له سخت رواني او فزيکي کړاو او ډيرو تلفاتو سره مخامخ کړی و، له همدې امله برتانويانو سنګين له دوزخ سره تشبيه کړی و.

د سنګين داوسني سقوط په اړه نړيوالو رسنيو هم ګڼ راپورونه خپاره کړل، د بېلګې په توګه د سنګين په اړه دواشنګټن پوسټ او وال سټريټ ژورنال سرمقالو ته اشاره کوو: وال سټريټ ژورنال ليکي چي : امريکايانو او برتانويانو سنګين کي تر ټولو زيات تلفات ګاللي او سنګين هغه سيمه ده چي په ۲۰۱۰ز کال کي دنا ټو ۳۰۰ عسکر پکي له منځه ولاړل،خو تېر کال په همدې سيمه کي يوازي ۲ امريکايي پوځيان ووژل شول.

واشنګټن پوسټ د سنګين د سقوط په اړه ليکي چي: پر سنګين دطالبانو ولکې دافغانستان د چارو ګڼ ځارونکي حيران کړل،دوی وايي هغه سيمه چي ناټو او کابل حکومت د ډيرو تلفاتو په قيمت ساتلې وه، خوشي کول يې داندېښنې وړ ده . واشنګټن پوسټ زياتوي چي: لس کاله وړاندي سنګين کي دطالبانو او امريکايانو- برتانويانو ترمنځ سختي جګړې وشوې، دغه جنګونه د ۲۰۰۶ له اوړي څخه د ۲۰۰۷ تر پسرلي پورې جاري وو،امريکايي عسکرو د سنګين جګړې د کوريا جګړې ته ورته ګڼلې، همدارنګه برتانوي پوځيانو بيا د سنګين سخت جنګونه ددوهمي نړيوالي جګړې په مهال د شوري

اتحاد د ستالين ګرادخونړيو جګړو تــه ورتــه بلــل او سنګين يې دسنګين ګراد په نوم يادا‌وه.

دسنګين سقوط يرغلګرو او کابــل اداړې تــه د عبرت درس:

يرغلګرو دکابل رژيم سره دهيــواد پــه مختلفــو برخو په ځانګړې توګــه هلمنــد کــي پــراخ هــوايې او مځکنــي کومکونــه وکړل،وســلې او پيســې يــې ورکړې،سياسي ملاتړ يې وکړ، دکابل رژيم په ملاتړ او دمجاهدينو په خلاف يې تراندازې زيــات تبليغــات او پروپاګند وکــړ .بــې شــمېره نــازولي پوځيــان يــې د افغانستان د ځناورو خــوراک شــول،دايمي معيــوبين شول، په رواني ناروغيو مبتلا شول،خو خپل هدف ته ونه رسيدل، مجاهدين لا ډير قوي شــوي،د ســپېځلي مقاومت لمن يې دهيواد لر اوبر ته غځيدلې او ورځ تــر بلي په پوځي او سياسي ډګرونو کي د پرمختګونو په حال کي دي.

کابل رژيم د خپلو خلګو دوژلو، کړولــو، بنــدي کولو، کور نړولو او بې دينۍ خپرولو لپاره د يرغلګرو سره بې ساړې مخلصانه يارانه وکړه،دخپلو خلګــو د جونګړو منځ ته په نيمــه شــپه کــي ور واوښــتل، د ښځو او ماشومانو په مخ کي يې د کورنۍ د غړو پــه سرونو توري کښوړې ور واغوستلې، لاسونه يې ورته ولچک کړل او په ډير ويار سره يې دترهګر(مجاهــد) په نوم يرغلګرو ته وسپارل،باګرام او نــورو ځــايونو کي يې ديرغلګرو له لــوري دقــران عظــيم الشــان د سوځولو او په مرميو د ســوري ســوري کولــو ننګــه وکړه،خو پايله داشوه چي نن يې يرغلګر باداران يو په بل پسې لــه افغانســتانه تښــتي او د ســختي ورځــي همدې انډيوالو ته دخپلو هيوادونو موقت ويــزې هــم نه ورکوي،اخر د يرغلګرو چوپړمــار د(هنــدو ســترې خداى ج ناراض) متل مصداق شول.الله تعالى مــو دې له داسي حالت څخه وساتي، امين!

واقعيت دادى چي ولس د اســلامي امــارت پــه مشرۍ داشــغالګرو او کابــل اداړې پــر ضــد ولسي- پاڅون کړى،يرغلګر که هرڅومره پوځيان راولېږي او ګوډاګيان يې هر څومره ډير ملاتړ وکړي،په پاى کــي به دالله تعالى په نصرت ماته خــوري، هــيڅ يــو زبــر ځواک ولسي قيام نه دى خاموش کړى، که هرڅومره وحشت يې تکرار کړى، پاى يــې شکســت پــه برخــه شوى دى. يرغلګر او ګوډاګيان يــې بايددافغانســتان په بيلابيلو سيمو کي د پرله پسې ماتو او په ســنګين کي د لويې رسوايې څخه عبرت واخلي،کابل داسلامي امارت مجاهدينو ته وسپاري چــي دمجاهــد ولــس د هيلو او ارمانونو سره سم خپلواک، مترقي او سوچه اسلامي نظام رامنځته کړي.

لــه ســنګين څخــه د يرغلګــرو امريکايــانو او انګريزانو او کابل رژيم تيښتي دښمن نور هم خوار او شرمنــده کړ،ځکــه دښــمن پــه پرلــه پســې ډول د مجاهدينو د ضعف اوازې رسنيزي کولې، دښــمن پــه ډير حماقت سره پــه دوو ګوتــو د لــر د پټولــو هڅــه کوله،خو ددښمن د شکست او دمجاهدينو دموفقيــت واقعيتونه داسي راښکاره شول چي دښــمن يــې هــم اعتراف ته مجبور کړ.په ټوله کي د سنګين سقوط پر يرغلګرو اوکابل رژيم داسي کلک ګــوزار دى چــي تــر ډيره به يې له همدې درده زګېروى خيژي.

مسلمان ولس وژغورئ!

حامد (برهان)

کفارو چې کله د ګران هیواد (افغانستان) په پاکه خاوره یرغل پیل کړ، د نورو ستروجنایتونو ترڅنګ یې، چې له لیکلو یې ژبه د ستوماني او قلم د شرم احساس کوي، د عام ولس د بې دینۍ له پاره له خبرې رسنیو، راډیو ګانو او سوشل میډیا نه د اجیرو لیکوالانو، بې ضمیره ژورنالستانو او نورو فاسد عناصرو پر مټ کار واخیست او لا دا سلسله روانه ده. د نالوستو وګړو د فکري انحراف له پاره یې له رادیو ګانو ګټه پورته کړه په تېره بیا له ښاریانو نه لرې په پرتو سیمو کې، چېرته چې ټکنالوجي ته لاس رسی نشته. که څه هم ځینو رسنیو له پخوا نه خپل کار پیل کړی وو؛ خو د نوي یرغل له پیل سره نورو راډیو ګانو هم خپل فعالیت په بشپړ ډول پیل کړ.

ځینو نورو د قلم عفت ته احترام او درناوی ونه کړ، د الله پاک د دې ستړي لورینې نه یې په ناسم ډول استفاده وکړه، د سپین کاغذ مخ یې د ورځپاڼې او اونیزې په نامه د معصوم ملت د معصومو ارمانونو د اضمحلال (نابودولو) له پاره وکارول.

یو شمېر یې د سکرین (هینداري) په پرده د دې ځورېدلي اولس په ببلاري کولو، ځورولو او کړولو کې په ټول توان سره په انځوریزه او غیر انځوریزه توګه کوښښ وکړ او کوي یې.

یادو پلورل شوو څېرو، چې ذاتي او بنیادي دنده یې ملت ته خدمت او له هغوی نه دفاع وه په داسې حال کې چې زیات یې ځانونه د اسلام سپېڅلي دین ته متعهد (ژمن) هم بلي، دا مهال د یو لړ مادي امتیازاتو په بدل کې د هغوی وینه زېښې او غواړي چې دا مسلمان قشر د د سپېڅلي دین له ښکلا نه د تورتم ګرداب ته ټېل وهي!

هغوی ته د خپلو بادارانو له لوري دنده سپارل شوې چې د پېښې حقائق پټ کړي، د یرغلګرو او لاسپوڅو د تلفاتو تعداد کم وښیي او یا ترې چورلټ انکار وکړي.. د ولسي وګړو دمرګ ژوبلې پرې پر مجاهدینو ور واړوي، پاک او سچه مسلمان د ترهګر، تروریزم او.. په نامه او سپېڅلی جهاد د طرور، وژنې او لوټمارۍ په نومونو خلکو ته ور وپېژني.

دا راز ورته ویل شوي چې فحشا، ناروا او ناوړه کارونه نشرول، لیکل او انځورول د دې غیرتي اولس په وجدان پلورنې، ضمیر پلورنې کې مهم رول لوبولی شي؛ ځکه نو باید تاسو له هرې لارې، په هره توګه او په هره وسیله چې ممکنه وي خپل هدف ترلاسه کړئ. هر راز فحاشي د غیرت جړې وباسي، جهاد د غیرت له چینې نه وده کوي؛ ځکه د غیرت زوال د جهاد د مخنیوي له پاره د ډال حیثیت لري.

یو لړ یې دنده لري چې د ديني، اسلامي اقدارو او نوامسو (هستیو) ارزښت او مینه د مسلمانانو له زړونو نه وباسي.

یو شمېر یې شپه- ورځ د دې ویاړمنو پرګنو کلتور، عنعنات او تاریخي ویاړونه په بډ وهي؛ خو ویده ولس به کله ویښ شي؟

ټېرته په کتو کفار د زرو او زور په کارولو سره زمونږ د غیور اولس بېلاري کولو ته

کرغېړنې متې را بډ وهلې چې تر ډېره بریده په خپل شوم هدف کې د کرایه شوو وګړو پر مټ بریالي هم دي؛ ځکه زمونږ د ځوان نسل ترجهاد او ديني شعائرو له بال او بېړ سره مینه ده؛ تر اسلامي سیرت او صورت ورته غربي لومړیتوب لري؛ تر کتاب ورته ټیوي، سرود او سرنا اهمیت لري؛ تر نبوي مسیر پر غربي تګلاره زیات باور لري او..

لهذا د ټولنې هر سالم وګړی علی حسب المطاق باید خپل ور سپارل شوی مسؤلیت او دنده په پوره اخلاص او امانت داري د دې ستر فساد په مخنیوي کې ترسره کړي، د کفارو او د هغوی د لاسپوڅو د هر راز دسیسو په شنډولو کې له هرې وسیلې کار واخلي او د هغوی د هر شوم پلان په وړاندې ویښ و اوسي، یوائې د یو ټولي مسؤلیت و نه ګڼل شي.

قاضي ابو يوسف رحمه الله نه

د امام ابوحنيفه رَحِمَهُ ٱللَّهُ غوره نصيحتونه

ژباړن: فضل الرحمن اغا

•ترهغه وخته پورې چې ډېر ضرورت درته پېښ نه شي پاچا ته مه ورځه تر څو عزت او پت دې ترپښودلاندې نشي.

•داسې بايد ونه شـي چـې دحکومـت لـه وېرې دحق او خپلې رايې مخالف عمل وکړې.

•دهېڅا د مقام او حکومـت پـه وړانـدې د حق ويلو څخه ډډه مه کوه اوپه زړورتيا سره حق ووايه ځکه چې د حق مرستندوی الله جَلَّجَلَالُهُ دی.

•هغه خدمت او دنده چې په ځان کـې يـې داجرا کولو توان نه لرې هېڅکله مه اختياروه.

•که کوم شخص پـه شريعـت کـې بـدعت پيداکړی په ښکاره توګه يې غلطی ونيسه تر څـو نور خلک د هغه په تقليد او تعقيب کې جرئت ونه کړی.

د علم زدکړه په ټولو شيانو مقدمه وګڼه.

•کله چې تاته د علم د زدکړې په شغل کـې وخت پيداشی بيا نودمال پيداکولو لپاره هم همت وکړه ځکه چې د علم اومال حصول په يوه وخـت کې مشکل کار دی.له علم وروسته محمدی سنت پرځای اونکاح وکړه خوپه هغه وخـت کـې چـې تاته د کورداری د ټولو ضروريانو د پـوره کولـو قدرت حاصل شی.

•په مسجد او لاره کې له خوړلو ډډه وکړه.

•څوک چې له تاڅخه کومه مسئله پوښتی ځواب يـې پـه حقـه سره ورکـړه او دځانـه پـه پوښتنه کې نور څه مه يوځای کوه.

•په عقايدو کې له عوامـو سره بحـث مـه کوه.

•له خپلو شاګردانو سره درسـی سـلوک او رفتار وکړه تر څو خلـک فکـر وکـړی چـې سـتا اولادونه دی.

•په علمی بحثونو کې داسې خبرې وکړه چې دې هغه پوره ثبوت په لاس کې ولرې.

•که کوم بل ځای یا ښار ته ولاړشئ نو د هغه ځای له عالمانو او فاضلانو سره داسې مجلس او صحبت وکړه چې دهغو په فکر کې له تاسره رقابت پیدا نه شی.

•دمناظرې په وخت کې له زړورتیا او خپلواکۍ څخه کار واخله د خوف او ډار یوې ذرې ته په زړه کې ځای مه ورکوه کنه نو فکر دې خرابیږی او ژبه دې لړزیږی.

•کوم خلک چې دمناظرې او بحث په ادابو نه پوهیږی او له حق څخه عملاً انکار کوی له هغو سره هېڅکله بحث مه کوه.

•د تګ په وخت کې ښئ او کینې خواته ډېر مه ګوره.

•په خبرو اترو کې ترخه خبره مه کوه او غږ دې ډېر مه پورته کوه.

•کوم خلک چې ستا ملاقات ته راځی دهغو په مخ کې علمی مسائل ذکر کړه.

•په لمانځه کې دامکان تر حده امامت مه غوره کوه.

•په هر خبره کې تقوا او امانت خپله تګلاره وګرځوه.

•کله چې دې آذان واوریده په ښېره لمانځه ته ځان تیار کړه.

•په هر میاشت کې درې څلور ورځې د روژې نیولو لپاره وټاکه.

•هره ورځ له لمانځه وروسته دقرانکریم تلاوت وکړه.

•له دنیا سره ډېره مینه مه کوه.

•د قرانکریم تلاوت مه قضا کوه.

•د قبرونو زیارت ته ډېر لاړ شه.

•له لهو او لهب څخه پرهېز وکړه.

•او د کاونډیان عیبونه ته دستر په سترګه وګوره.

.....ومن الله التوفیق

غرور

_غرور او لويي د عقل لپاره يو افت دی.

_لوی مي کړې لويي را مه کړې.

_مغرور او متکبر ته نصيحت مه کوئ.

_ له متکبرينو سره تکبر او لويي کول صدقه ده.

احمد جنيد مبارز

انتقام

_انتقام د وحشيانه انصاف دوهم نوم دی.

_څوک چې انتقام نه اخلي هغه په ډېرو درجو له خپل دښمن څخه غوره او بهتر وی.

_څوک چې د انتقام جذبه په زړه کې لري هغه په خپل لاس خپل زړه زخمي کوي.

_ په انتقام اخيستنه کې تلوار کول انتهايي رذالت دی.

د ناهیلۍ په عالم کې یوبل ناکام اقدام

حسن زوی

په امریکا کې دننه دډونالډ ټرمپ په مقبولیت کې د کمې راتلو ؛ د ټرمپ داقدامات تواواظهارات و په مقابل کې په نړیواله سطحه دسختو غبرګونونو درامخې ته کېدلو او دسیاسي سترو ننګونو نه دځان بچ کولو او دخلکو د توجو اړولو لپاره ډونالډ ټرمپ له دې پرته بله لار نه وینې چې په افغانستان کې جنګ ته نوره پراختیا ورکړل شي او نړۍ ته دفریب ورکولو په لړ کې دغاصبو بهرنو فوځونو پرضد جنګېدونکي مجاهدین د ټولې نړۍ لپاره د داسې ستر خطر په صفت معرفي کړي چې پرضد یې جنګېدل او له منځه یې وړل د ټولې نړۍ اړتیاوي خو دا اړتیا په یوائې ځان امریکا پوره کوي او په نړۍ احسان کوي.

د جنورۍ په ۲۰ مې نېټې چې ټرمپ دولسمشرۍ لوړه وکړه او سپینې ماڼۍ ته په قانوني ډول وردا خل شو نو په سبا یې تر ټولو ډومبی کار دزماني دبدنامې ځواکمنې ادارې سې آي ای دمرکز نه لیدنه وه چې هدف تر ې دځان سره د دې ادارې دلوړپوړو افسرانو همغږي کول و.

ورپسې یې چې کوم کار وکړ هغه په افغانستان کې دغاصبو ځواکونو قوماندانانو سره دسټیلایټ تلیفون له لارې خبرې وې.

ټرمپ د دې قوماندانانو سره په خبرو کې دهغوئ قربانئ وستایلې ؛ دهغوئ دشتون داهمیت په اړه یې هغوئ ته په احساساتو کې راوستونکې څرګندونې وکړې ورته یې نه یوائې د دې جنګ درواندساتلو وویل بلکې دازېرې یې هم په ورکړ چې د ده دواکمنۍ پرمهال به دا جنګ نور هم پسې تېزېږي.

ټرمپ اوبش دواړه دیوګوند غړي دي؛ دواړه دیو فکرځښتنان دي اوپه اسلام دښمنۍ کې دواړه دجنون حد ته رسېدلي دي ؛ بش چې داسلامي نړۍ پرضد کوم جنګ اعلان کړیدی د ټرمپ نه ددې جنګ د ټېزولو اودې جنګ ته د پراختیا ورکولو پرته بله تمه نه شي کېدای خوله نېکه مرغه چې اوس حالات دبش دواکمنۍ په پرتله ډېر بدل اودامریکا لپاره ډېرناهیلي کونکي دي ؛ دامریکا له لوړې دنړۍ په ګڼو سیمو کې دروانو ټولو جنګونو په اړه ټرمپ ته وړاندې شوي ټول راپورونه ټول دغم نه ډک اوناهیلي کونکي وو چې افغانستان پکې ترټولو وړاندې و؛نیشنل انسپکټر جنرال فار افغانستان ری کنټرکشن نومې اداره چې دافغانستان دجنګ په اړه دامریکا ولسمشر ته کلنی راپور تیاروي دافغانستان په اړه په سږني تیار کړي راپور کې یې راغلي دي چې په تېر ۲۰۱۶ م کال کې دطالبانو په حملو کې ۶۷۸۵ م فوځیان او نور امنیتي ځواکونه وژل شوي او ۱۱ زره او پنځه سوه پکې ټپیان دي؛راپور کې راغلي دي چې تېر کال ددولتي تلفاتو شمېر ۵ زره وچې سږ کال پکې ۳۵ سلنه ډېروالی راغلی دی؛ په راپور کې راغلي دي چې په اوسنو تلفاتو کې یو داند ښځې وړ عنصر دا دی چې وړاندې به زیات دماینونو او بمي بریدونو له لارې رسېدل خو داوسنو تلفاتو ډېره برخه دطالبانو دمخامخ بریدونو په نتیجه کې رامنځته شویده چې دا دې خبرې روښانه دلیل دی چې طالبان اوس زړور شویدي او پټو ځایونو نه د ګوزار کولو اوبمي بریدونو په پرتله مخامخ جنګېدلو ته ترجیح ورکوي.

په راپور کې راغلي دي چې د کابل اداره دخپل کنترول لاندې سیمې په پرلپسې ډول له لاسه ورکوي او دطالبانو نفوذ ورځ تر بلې زیاتېږي؛اوس دوئ بیخي ښکاره ژوند کوي ؛هر ډول وسلې په لاس لري او نوي مواصلاتي او اطلاعاتي نظام نه داستفادې صلاحیت پکې دی او دعملې عکس العمل ښکاره کولو لپاره هر ډول وسایلو ته یې لاس رسی موندلی دی

رښتیا دا ده چې د ټرمپ دنوې اداري لپاره دافغانستان په اړه دا راپور او دافغانستان اوسني حالت ډېر دناهیلۍ نه ډک دی او یقین ته یې پریوتې ده چې دخپل تاریخ په تر ټولو اوږد جنګ کې یې ستر ځاني او مالي تلفات ضایع کېدونکي او اهدافو ته رسېدلو نه ورځ تر بلې لري کېدونکي دي.

په تېرو ۱۵ کلونو کې په ډومبي ځل داسې وشول چې په سوړ ژمي کې هم د اسلامي امارت مجاهدینو د دښمن پرضد خپل سنګرونه تاوده وساتل او د دښمن ته يې خورا ورخطا کونکي درانده تلفات وروړول نو ځکه په افغانستان کې د امریکا دفوځ مشر جنرال نکولسن د ټرمپ دنوې اداري نه غوښتي دي چې څو زره نور فوځیان دې افغانستان ته راولېږي ترڅو په افغانستان کې زمور ودرېدلې جګړه پرمخ ولاړه شي.

داسې ښکاري چې د ټرمپ اداري د جنرال نکولسن غوښتنو ته مثبت جواب ویل پیل کړيدي نو ځکه يې افغانستان ته د ۳ سوه سمندري ځواکونو درالېږلو پرېکړه کړی ده.

د اتریخ حقیقت باید ومنل شي چې امریکا له افغانستان نه په اسانه تللو ته نده تیاره، دلته امریکا ډېر زیات مالي او ځاني تلفات ولیدل نو د اټول ستر مالي او ځاني تلفات ډېر لوی تاوان او ډېره لویه ناکامي ده؛ امریکا دې لوی تاوان او لویې ناکامۍ منلو ته ذهناً نده تیاره او خپل ټول کوښښ يې دا دې چې ترې ځان وساتي.

د منځنۍ ختیځ او منځنۍ آسیا منځ کې د پروت افغانستان خورا ډېر ستر ستراتېژیک اهمیت هم له پامه نه شي غورځېدای خو اوس چې د منځنۍ آسیا په هېوادونو کې د تخمین او تصور نه پورته د تبلو او غازو دومره ډېرې ستري زېرمې کشف شویدي چې په راتلونکو درې څلورو کلونو کې به د ټولې نړۍ توجه ځان ته راواړوي نو د مادیاتو وګې او حریصې امریکا ته د دې سیمې نه صبر بدل او دروسې او چین په څېر قدرتونو ته میدان یوائې پرېښودل ډېر ګران دي نو ځکه موږ وایو چې امریکا شاید ژر شکست منلو ته تیاره نه شي.

یو خو ماتې خوړل وي او بل د ماتې منل وي؛ دا دواړه یوندي؛ د دواړو ترمنځ ډېر لوی توپېر دی؛ کومې امریکا چې پر افغانستان دیرغل نه وړاندې داویل چې دا هېواد به په ۱۵ ورځو کې ونیسي او په همدې ورځو کې به ورنه یوطالب او مجاهد هم بچ پاتې نه شي ۱۵ ورځې خو ډېره لرې خبرې ده د ټولو کوښښنو؛ سترو مالي او ځاني تلفاتو؛ سترو ظلمونو او وحشتونو سره سره چې پوره ۱۵ کلونو کې د دې هېواد په بشپړې قبضې او د طالبانو په له منځه وړلو نه

یواځې دا چې ونه توانېدل بلکې له هرې نه بلې ورځې ته طالبان ښه مضبوط شول او ترکنترول لاندې سیمې یې پراخې شوې نو عسکرې اصولو ته په پام سره همدا دامریکا او دامریکا داتحادیانو شکست دی ؛ددې شکست په اړه په مختلفو وختونو کې ځینو فوځي قوماندانانو او ملکي لوړپوړو چارواکو اعترافونه هم کړیدي خو ترکومه چې په رسمي ډول دشکست منلو خبره ده نو امریکایان دومره اخلاقي جرأت نه لري چې په رسمي ډول شکست ومني؛ تردي چې د تېښتې پرمهال به یې هم ونه مني بلکې په تېښتې تېښتې کې به هم ځان ته دوړو د پوزې ایښودلو کوښښ وکړي او دشکست ټوله پېره به په نورو ورواچوي.

په افغانستان کې دروان جنګ په اړه جنرال نکولسن نوې ناهیلې کونکو څرګندونو او دا ویل چې دافغانستان جنګ په بند حالت کې دی او هیڅ مخ په وړاندې نه ځي دامریکا نوی ولسمشر ډونلډ ټرمپ په ډېر سخت امتحان کې واچولو ځکه چې پدې حالت کې د ټرمپ په وړاندې په دوه ووکې دیوې لارې انتخاب حتمي و یاخو دافغانستان نه خپل ټول فوځونه ویستل او دلته دماتې اعتراف کول چې داسمدستي دامریکا لپاره دمنلو نده ځکه چې ډېره تاوانې او ډېره شرمونکې خبره یې بولي او دوهمه لار دا چې داسې څه وشي چې په ښکاره په جنګ کې د پرمختګ اقدامات وګڼل شي؛ ټرمپ همدا دوهمه لار غوره کړه او پیل یې افغانستان ته د ۳ سوه سمندري فوځیانو دلېږد نه وکړه.

پدې هر څوک پوهېږي چې دسل زرو نه زیاتو بهرنو فوځیانو دمجاهدینو په مقابل کې ماتې وخوړه نو دڅو سوه فوځیانو ډېروالی یقیناً بې ګټې اقدام دی چې بې ګټې توب یې امریکا ته هم دلمر په څېر څرګند دی ځکه داوباما دواکمنۍ پرمهال دفوځونو دزیاتولو او کمولو ډېر داسې اقدامات وشول خو نتیجه یې صفر وه .

داسې ښکاري چې دنورو فوځیانو داستولو له لارې دولت غواړي چې دشکست د پرې نه ځان وساتي ترڅو فوځ دا ونه وایي چې دشکست اعلان ته ځکه اړشو چې ولسمشر موغوښتنو ته مثبت ځواب ونه ویلو؛ بس دا به وروستۍ ناکامه هڅه وي او چې د ټرمپ دولسمشرۍ دادوره ختمېږي نو بیاد ولسمشر جوړېدو لپاره به ترټولو کامیاب اقدام داوي چې دافغانستان نه دخپلو فوځونو ویستل اعلان کړي؛ همدا به هغه وخت دولس غوښتنه وي او دهمدې غوښتنې د پوره کولو له لارې به ټرمپ دبیا ولسمشر کېدلو هڅه وکړي .

د اسلامي دعوت
په خپراوي کې د مسجد رول!

مولوي میرعباس گوهري

لکه څنګه چې په اوسني وخت کې د مسلمانانو په منځ کې د ژوند اړوند ډېرو مسایلو په برخه کې زیاتو دیني الفاظو او مصطلحاتو یا خو په تمامه معنی خپل اصلي مفهوم او تصورله لاسه ورکړی او یا هم ډېری دیني او شرعي مصطلحات او احکام د خپل د هراړخیزمفهوم د پراخه چوکاټ نه راایستل شوي او د معنی او مفهوم په لحاظ په یو ورځکې او تنګه دایره کې ننویستل شوي دي چې د ديني اصطلاحاتو نه دغه جزوي اووړوکی فهم او تصور ددې لامل شوی دې چې د یوطرف نه د دین اصلي تصور او بڼه بدله شوې ده.

او د بل طرف څخه په مختلفو وختونوکې د خپلو موجوده ظروفو او شرایطو په رڼا کې د دین د پرمختګ مخه ډپ شوې او د انساني ژوند هرې برخې ته یې د دین شمولیت او عمومیت ترسوال لاندې راوستی دی.

یو له دغو دیني او شرعي مصطلحاتوڅخه چې د دین او اسلامي دعوت په چوکاټ کې د مؤثریت او اغېزې په لحاظ خپل پراخه او سم مفهوم له لاسه ورکړی هغه مسجد دی ،پداسې حال کې چې مسجد په خپل اوږده تاریخ کې د ژوند په ټولاټولو ډګرونو کې اسلامي امت او مسلمانان د الله د یوالي سمې عقیدې، سم عبادت، ښواخلاقو، روغو معاملاتو او د دنیا او آخرت د کامیابیو او نیکمرغیو لوري ته توجیه کړي او د هغوی په ژوند کې د یوې اغېزناکې وسیلې په حیث ژور او د پام وړ بدلونونه منځ ته راوړي.

دي ددغې مدعا د اثبات لپاره غواړم چې په نبوي زمانه کې د ژوند مختلفو برخو کې د انسانانو په توجیه او لارښونه کې د مسجد رول

او اغیزې ذکر کړم ترڅو مسلمانان د مسجد په اړه د لنډ او تنګ مفهوم د چوکاټ څخه راووځي او مسجد ته د خپل پراخه مفهوم په دایره کې د دین او اسلامي دعوت د خدمت په برخه کې خپل حثیت، مقام اورول بېرته اعاده کړای شي:

۱:- مسجد د الله د یوالي او الله سره د انسانانو د تړاو په برخه کې ترټولو د ستر او مهم مرکز په توګه:

کله چې یو انسان په شپه او ورځ کې پنځه ځله مسجد ته ځي او هلته د الله د لویۍ او عظمت پر بنیا د خپل د بنده ګۍ او طاعت سر الله تعالی ته په سجده ږدي دا ددې ښکارندوي کوي چې دا انسان په دې خبره کلکه عقیده لري چې په کایناتوکې د الله نه پرته بل څوک د بندګۍ، طاعت او سجدې وړ او لایق نشته یواځې همغه ذات چې په حقیقي معنی ددې موجوداتوخالق، مدبر، مربي او واکدار دی هغه ددې مستحق دی چې د هغه په وړاندی د بنده ګۍ او عاجزۍ سرښکته شي.

مسجد د انسان ددغه عقیدې د عملي برنامې د تطبیق لپاره یو اساسي مرکز ګڼل کېږي علاوه پردې چې په ورځ کې پنځه ځله د انسان او د هغه د رب تر منځ د رابطې د ټینګولو په غرض هر مسلمان ته خپله غیږ پرانزي ترڅو هغه د الله دې کورته په تلو او راتلو پر الله متعال د خپل ایمان او بنده ګۍ ژوندی او عملي ثبوت وړاندې کړی لکه څنګه چې ددې خبرې په اړه قرآنکریم داسی یادونه کړې ده.

کله چې یو انسان په شپه او ورځ کې پنځه ځله مسجد ته ځي او هلته د الله د لویۍ او عظمت پر بنیا د خپل د بنده ګۍ او طاعت سر الله تعالی ته په سجده ږدي دا ددې ښکارندوي کوي چې دا انسان په دې خبره کلکه عقیده لري چې په کایناتوکې د الله نه پرته بل څوک د بندګۍ، طاعت او سجدې وړ او لایق نشته یواځې همغه ذات چې په حقیقي معنی ددې موجوداتوخالق، مدبر، مربي او واکدار دی هغه ددې مستحق دی چې د هغه په وړاندی د بنده ګۍ او عاجزۍ سرښکته شي.

(انما یعمرمساجد الله من امن بالله والیوم الاخر) (التوبة)

ژباړه: جوماتونه یواځې هغه څوک جوړوي چې پر الله او د قیامت په ورځ عقیده او باور لري کیدای شي، چې د لوستونکې په ذهن کې دا خبره وګرځي چې آیت کریمه کې د مسجد جوړونکي په اړه یادونه شوې ده نه د لمونځ کوونکي په دې اړه نو ځواب دادی چې ټول مفسرین عالمان په دې خبره متفق دي چې د مسجد اعمار او ابادي پر دوه قسمه ده :

الف:په حسي او مادي توګه د مسجد اعمار او ابادي چې دا په ټوله کې په ظاهري لحاظ د مسجد د ډانچې، تعمير او هيکل جوړول دي

ب :ايماني او معنوي اعمار او ابادی چې دا په حقيقت کې مسجد د الله په عبادت، طاعت تلاوت او ذکر ابادول دي نو ويلای شو چې ذکرشوی آيت کريمه په دوارِه قسمه سره د اعمار او ابادی معنا ګانو ته شامل دی بلکې که ووايو چې که څه هم آيت کريمه په ذکرشوو دواړو معنا ګانو دلالت کوي ولې خو دلالت يې په دوهمه معنی ترلومړی معنی ډيرځرګند او غوره دی ځکه چې رسول اکرم صلی الله عليه وسلم د ابوسعيد الخدری رضی الله عنه په روايت فرمايلي دي:

(اذا رأيتم الرجل يتعاهد المسجد فاشهدوا له بالايمان)

ژباړه : چې کله مو يو سړی مسجد پوري ځان تړلی ؤ نو د هغه پر ايمان ګواهي ورکړئ.

د الله جلاله له طرفه د ځمکې پرمخ د انساني نوعې د پيدا کولو سره سم کعبه شريفه په لومړي ځل د ملايکو په وسيله جوړول او د ټولې نړۍ انسانان ورته رابلل په دې خبره ترټولو ستر شاهد او دليل دی چې انسان د خپل لنډ او يا اوږده ژوند په هره شېبه او لحظه کې دېته ضرورت لري چې د الله تعالی سره د اړيکې او پيوستون د يو مرکز سره بايد په حتمي توګه په تماس کې وي ترڅوهلته د خپل رب د يوالي پراساس هغه ته خپله تسليمي او عاجزي څرګنده کړي.

پرټولې نړۍ د سلطنت او بادشاهۍ ترڅنګ د سليمان عليه السلام په لاس د بيت المقدس ابادول او د همدې په څېر د مکې حرم نه د مدينې په لور د هجرت په سختو شيبوکې مدينې منورې ته د رسيدو سره سم د رسول اکرم صلی الله عليه وسلم له خوا د قباء او نبوي جوماتونو د تأسيس ډېره کيښودل ددې خبرې څرګند دليل دی چې انسان د خپل دنيوي ژوند د ترقۍ او عروج د لوړې نه لوړې پوړۍ او د ظروفو او شرايطو په تنګيدو د ستونزو او مشکلاتو ټيټې نه ښکته مرحلی ته په تللو هم په هيڅ وخت کې له مسجد نه نشي- بې پروا کيدای ځکه چې مسجد د انسان او د هغه د خالق ترمنځ د رابطې ستره وسيله ده

۲ :مسجد خلکو ته د الهي او نبوي پيغام رسولو ستره وسيله ده:

کله به چې د الله د طرف نه نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته د انسانانو د هدايت او لارښونې په هدف وحې راغله نو ډيری وخت به د هغه مبارک عادت دا وو چې د الله جل جلاله ددې ستر

پیغام رسولو دپاره به یې خپل صحابه کرام نبوي مسجد ته راوبلل او هلته به یې د یوې شانداړې غونډې په مراسمو کې هغوی ته د الله جلاله رالیږل شوی احکامات واورول او حاضرینو به نورو غایبینو ته ورسول او څوک به چې د ناخبرۍ او یا کوم معقول عذر پربنیاد غیرحاضر وو نو بیا به یې د موضوع په اړه د حاضرینوڅخه پوښتنه کوله په دې اړه یوحدیث کې ذکرشوي دي چې یوځلې رسول اکرم صلی الله علیه وسلم مسجد کې دا مبارک آیت کریمه) اقترب للناس حسابهم وهم فی غفلة معرضون) د نزول نه وروسته صحابه وو ته بیان کړه بل صحابي چې د غونډې نه خبر نه ؤ او په عادي توګه د خپل کور د یو دېوال په جوړولو مصروف ؤ د نبوی مسجد په حاضرینو کې د یو کس نه پوښتنه وکړه چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم خلکو ته څه احکام بیان کړل؟ هغه ورته پورته ذکرشوی آیت کریمه ولوسته نوفورا یې کار پربښوده چې په دې وخت کې بیا نو مونږ ته د کورجوړول څه فایده کوي؟

د الله جلاله له طرفه د ځمکې پرمخ د انساني نوعې د پیدا کولو سره سم کعبه شریفه په لومړي ځل د ملایکو په وسیله جوړول او د تولې نړۍ انسانان ورته رابلل په دې خبره ترټولو ستر شاهد او دلیل دی چې انسان د خپل لنډ او یا اوږده ژوند په هره شېبه او لحظه کې دېته ضرورت لري چې د الله تعالی سره د اړیکې او پیوستون د یو مرکز سره باید په حتمي توګه په تماس کې وي ترڅوهلته د خپل رب د یوالي پراساس هغه ته خپله تسلیمي او عاجزي څرګنده کړي.د همدې په څیر به چې کله رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په ابتدایي ډول خپلوصحابه ووته د ژوند په ځینې چارو کې څه هدایات او لارښونې بیانول غوښتل او یا به یې هم د صحابه وو په چارو او ویناوو کې د نقصان کوم داسې اړخ بیامونده چې توجیه او سمون ته به یې ضرورت وو نوهغه مبارک به اودس وکړ او مسجد ته به یې تشریف یوړو او هلته به یې صحابه خپلې غلطۍ او اشتباه ته متوجه کړل لکه چې په دې اړه د انس بن مالک رضی الله عنه روایت دی.

عن أَنَسَ بْنَ مَالِكٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ، يَقُولُ: جَاءَ ثَلاَثَةُ رَهْطٍ إِلَى بُيُوتِ أَزْوَاجِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَسْأَلُونَ عَنْ عِبَادَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، فَلَمَّا أُخْبِرُوا كَأَنَّهُمْ تَقَالُّوهَا، فَقَالُوا :وَأَيْنَ نَحْنُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ؟ قَدْ غُفِرَ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ، قَالَ أَحَدُهُمْ: أَمَّا أَنَا فَإِنِّي أُصَلِّي اللَّيْلَ أَبَدًا، وَقَالَ آخَرُ: أَنَا أَصُومُ الدَّهْرَ وَلاَ أُفْطِرُ، وَقَالَ آخَرُ: أَنَا أَعْتَزِلُ النِّسَاءَ فَلاَ أَتَزَوَّجُ أَبَدًا، فَجَاءَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِلَيْهِمْ، فَقَالَ: «أَنْتُمُ الَّذِينَ قُلْتُمْ كَذَا وَكَذَا، أَمَا وَاللَّهِ إِنِّي لَأَخْشَاكُمْ لِلَّهِ

وَأَتْقَاكُمْ لَهُ، لَكِنِّي أَصُومُ وَأُفْطِرُ، وَأُصَلِّي وَأَرْقُدُ، وَأَتَزَوَّجُ النِّسَاءَ، فَمَنْ رَغِبَ عَنْ سُنَّتِي فَلَيْسَ مِنِّي«

ژباړه : يو ځلې د صحابه وو څخه درې تنو وغوښتل چې د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د عبادت د کم او کیف (اندازې او څرنګوالي (څخه ځان خبرکړي ترڅو هغو پسې په خپلو کړو وړو کې اقتداء وکړي نو د نبي کریم صلی الله علیه وسلم کور ته راغله او د هغه د بیبیانوڅخه د پردې او حجاب نه اخوا د هغه مبارک د عبادت پوښتنه وکړه هغوی ورته د رسول اکرم صلی الله علیه وسلم د عبادت په اړه معلومات ورکړل پوښتنه کونکو په نظر د هغه مبارک عبادت لږ وګڼلو بیاېي وویل چې زمونږ او د پیغمبرترمنځ خو ډیر تفاوت دی هغه ته خوالله متعال مخکینې او وروستني ګناهونه معاف کړي دي مونږ چې کله په دی مرتبه کې نه یونو مونږته د هغه په نسبت ډیر عبادت کول پکار دی یو تن د هغوی نه وویل: په الله قسم چې زه به همیشه روژه نیسم دوهم وویل: زه به ټوله شپه الله ته ودریږم هیڅ خوب به نکوم درېیم وویل چې زه به کله هم نکاح ونکړم نبي کریم صلی الله علیه وسلم چې کله کور ته راغی نو بیبیانو یې د صحابه وو د پوښتنو او ویناوو څخه خبر کړو رسول اکرم صلی الله علیه وسلم په سمدستي توګه اودس کوي او خپل جومات ته راځې او خپلوصحابه وو داسې خطاب کوي:

څه باعث دی په تاسو چې فلانی فلانی ویناګانې مو کړیدي په دې سره یې په مسلسله توګه روژه نیولو، ټوله شپه عبادت کولو او نکاح نه کولو په برخه کې د هغوی قسمونو ته اشاره وکړه او بیاېي وویل:زما دی په هغه ذات قسم وي چې زما روح د هغه په اختیار کې دی زه ستاسو ټولوڅخه د الله نه ډیر وېرېدونکې یم زما د عبادت طریقه داده چې کله نفلی روژی نیسم او کله بوزه کیږم، د شپی په څه برخه کې الله ته قیام او طاعت کوم او بله برخه کې خوب کوم او نکاح هم کوم او په دی خبره به ځان پوه کړئ چې نکاح زما د سنتو نه ده چا چې زما د سنتو او طریقوڅخه مخ وګرځاوه هغه زما په لار نه دی روان

۳ :مسجد د مسلمانانو ترمنځ د یوالی او رابطی مرکزدی:

پداسې حال کې چې په دي وروستي محمدي امت د نورو امتونو په نسبت الله جلاله د ځانګړو نعمتونو په لړ کې یو ستر انعام دا هم کړی دی چې ټوله ځمکه یې ورته مسجد ګرځولې ده چېرته چې د اسلامي امت یو غړی وغواړي او ورته اسانه وي نو د دنیا په هرکنج او کنار کې په

خوره وره ځمکه د خپل رب عبادت او بنده ګي په اسانۍ سره کولای شي ولې خو ددې سره سره رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خپلو امتیانو ته په مسجد کې په جماعت سره د لمونځ ادا کولو کې زیات ترغیب او تشویق ورکړی تردی چې په مختلفو روایاتوکې د جماعت لمونځ پرهغه لمانځه چې پرته له مسجده یواځې ترسره شي (۲۵) او یا(۲۷) درجې زیات بهترګرځولی دی.

او په ځینو روایاتو کې د وړو مساجدو په نسبت چې لږ خلک پکې د جماعت د لمانځه لپاره راجمع کېږي هغو مساجدو کې چې ډیر لمونځ کوونکي پکې د جمعې لمونځ ادا کوي د ډیر اجر او ثواب باعث ګرځولای دی که د جماعت د لمانځه او لویې جمعې فضایلو ته ژوره کتنه وشي د نورو حکمتونو ترڅنګ شاید یو ستر حکمت دا هم وي چې د تیت او پاشان مسلمانانو ترمنځ یو ترابط او تړاومنځ ته راشي، د یو بل د حال نه خبرشي او په دې توګه مسجد ته د مسلمانانو ترمنځ دي وځای کولو او منظم کولو د رول لوبولو زمینه برابره شي.

پداسې حال کې چې په دي وروستي محمدي امت د نورو امتونو په نسبت الله جلاله د ځانګړو نعمتونو په لړ کې یو ستر انعام دا هم کړی دی چې ټوله ځمکه یې ورته مسجد ګرځولې ده چېرته چې د اسلامي امت یو غړی وغواړي او ورته اسانه وي نو د دنیا په هرکنج او کنار کې په خوره وره ځمکه د خپل رب عبادت او بنده ګي په اسانۍ سره کولای شي ولې خو ددې سره سره رسول اکرم صلی الله علیه وسلم خپلو امتیانو ته په مسجد کې په جماعت سره د لمونځ ادا کولو کې زیات ترغیب او تشویق ورکړی تردی چې په مختلفو روایاتوکې د جماعت لمونځ پرهغه لمانځه چې پرته له مسجده یواځې ترسره شي (۲۵) او یا(۲۷) درجې زیات بهترګرځولی دی.

رشتیا هم که د نن زمانې مصروفو انسانانو ته مسجد دي وځای کولو او ملاقات وسیله نه وای برابره کړې نو د انساني ټولنې د ډیر نږدې رشته دارو وګړو ترمنځ به هم ډیره اودږه زمانه د یو بل سره لیده کاته ممکن نه وو او نه به د یو بل د احوالو نه خبر وو.

مسجد کې د جماعت د لمانځه د شروع کیدو نه تر پایه که هر رکن او هرعمل ته ځغلنده نظر وشی نو په ډاګه تری څرګندیږی چې اسلام د انسانانو او په ځانګړی توګه د مسلمانانو ترمنځ څومره په نظم، سمع طاعت، یو بل ته په نږدیوالي او یوالي تأکید او ترکیز کړي دی د لاښه وضاحت لپاره لاندې څوشیان د ښلګې او نمونې په توګه ذکر کوم.

۱ :سره له دې چې الله د ټولو کاینناتوخالق دی د خپل بنده په ټولوکړو وړو هر چیر ته چې وي په پوره کم او کیف سره خبیر او علیم ذات دی په ځانګړي ځای کې د عبادت په کولو او یا نه کولو د هغه غني او حمید ذات په الوهیت کې کوم کمی او زیاتی نه راځي خو ددی سره سره یې بنده د خپل پیغمبر په وسیله مکلف کړی ترڅو خپل عبادت او بنده ګی الله ته په مسجد کې د نورو خلکو سره یوځای ترسره کړی .

۲ :بیا یواځی مسجد ته د جماعت لمانځه ته په راتلو اکتفاء نه ده ،شوی بلکې جماعت ته راتلونکې ته یې په کلکو ټکو لارښونه کړې چې یو بل ته په صف کې نهایت نږدې، د یوبل سره برابر او منظم ودریږي نبی کریم صلی الله علیه وسلم ذکر شوو خبرو ته په مختلفو احادیثوکې په مختلفو الفاظو داسی اشاره کړې ده:

عن ابن مسعود قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم : استووا ولاتختلفوا فتختلف قلوبکم – مسلم-

ژباړه: د عبدالله بن مسعود په روایت رسول اکرم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دی : د لمانځه په صف کې د یو بل سره برابر ودریږئ په صف کې کاږه مه ودریږی که صف موکوږ کړو الله به مو زړونه کاږه کړي.

عن انس بن مالک عن النبی صلی اله علیه وسلم : سووا صفوفکم فان تسویة الصفوف من تمام الصلاة وفی روایة من اقامة الصلاة – البخاری

ژباړه : د انس بن مالک په روایت نبی کریم صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي :

خپل صفونه ښه برابرکړئ ځکه د صفونو برابرول د لمانځه د پوره کولو برخه ده په بل روایت کې یې د لمانځه د ودرولو برخه ښودلی ده.

دا او دیته ورته ټول دلایل ددې خبرې ښکارندویي کوي چې اسلام د خپلو پیروانو په یوصف کې منظم متحد کیدل غواړي او په دې کار کې مسجد ترټولوستر او اغیزمن رول پخوا هم لوبولی او ترقیامته به یې مسلمانانوته د یوالی او یوځای کیدو لپاره خپله د فیوضاتو او فضیلتونو ډکه غیږ پرانستی وی.

۴ :مسجد د مسلمانانو تر منځ د شخړو په حل کې د محکمې په توګه:

که څه هم صحابه کرام رضی الله عنهمدپیغمبر صلی الله علیه وسلم په لاس هغه روزل شوی نسل وو چې په حقوقي مسایلوکې

خپل منځي لانجې ډيرى نه پيښيدې خوكله به چې څه مسايل او قضايا د دوى ترمنځ مخې ته راغله بيا به يې په مسجد نبوي كې حل كولې لكه چې د سهل بن سعد په روايت يوحديث كې راغلى دى (ان رجلا من الانصارجاء الى رسول الله فقال يا رسول الله ارايت رجلا وجد مع امرائته رجلا ايقتله ام كيف يفعل ؟ فانزل الله – والذين يرمون ازواجهم ولم يكن لهم شهداء الا انفسهم الاية فقال النبى قد قضى الله فيک وفى امرائتک)

ژباړه :سهل بن سعد فرمايې: چې د انصارو نه يو سړي نبي كريم صلى الله عليه وسلم ته راغى او ويې ويل: اى د الله رسوله! كه يوسړى د خپلې ښځې سره كس ومومي نو آيا هغه به وژني ؟ او كه نه بله كومه معامله به ورسره كوي؟ په دې اړه شرعي حكم څه دى؟ نو ددى قضيې په ځواب كې ذكر شوى آيت كريمه نازل شو نو رسول اكرم صلى الله عليه وسلم ورته وفرمايل چې الله پاک ستا او ستا د ښځې په اړه قطعي فيصله راولېږله او نازل شوى آيت كريمه يې ورته ولوسته.

د رسول اكرم صلى الله عليه وسلم نه وروسته د راشده خلافت په وخت كې هم د وروستيو درې واړو خليفه گانو عمر، عثمان او علي رضى الله عنهم په اړه علما او مؤرخين ليكې چې هغوى به هم هر يو د خلكو فيصلې په مسجد كې كولې د همدې په څېر قاضي شريح، حسن بصري ، امام شعبي او ځينې نورو مشهورو تابعينو به هم د خلكو ترمنځ شخړې مسجد كې حل كولې.

ابن ابى ليلى چې د عمر بن عبدالعزيز په خلافت كې قاضي وو هغه به هم فيصلې په مسجد كې كولې همدا وجه ده چې ستر محدث امام بخارى په خپل كتاب صحيح البخارى كې په دى اړوند دوه بابونه ايښى

الف: باب القضاء واللعان فى المسجد بين الرجل والمرءة

ب: باب التلاعن فى المسجد

د امام بخارى رحمه الله ددى ابوابو لاندى مختلف قسمه احاديث ذكر كړيدي چې دا په څرگنده په دې خبره دلالت كوي چې نبى كريم صلى الله عليه وسلم ډيرى وخت د خلكو زيات قضايا او مسايل په خپل مسجد كې حل و فصل كول

***

جنګ اوږدوونکي نوي امریکایي عزایم

حسن مومند

د محترمو لوستوالوپه علم کې به وي چې څوورځې دمخه په افغانستان کې دغاصبو امریکایې عسکرو قومندان جنرال نیکولسن دامریکا دکانګرس دغړو استماعیه غونډې ته په خپلې وینا کې وویل چې په افغانستان کې دطالبانو سره زموږ جګړه اوس داسې بند حالت ته رسېدلې ده چې هیڅ پرمخه نه ځي،دا جګړه نه موږ پرمخ بوتللای شو او نه ترې شاته راتلای شو په همدې اساس دامریکا دنوې اداړې نه غواړو چې افغانستان ته څو زره نور عسکر واستوي ترڅو دا فوځیان دافغان ځواکونو ترڅنګ ودرېږي او جنګ په خپلې ګټې تمام کړي.

دا په داسې حال کې ده چې دامریکا پخوانی ولسمشر ـ جارج ډبلیو بش د (N.B.C)ایې بي سي نومې امریکایې تلویزون سره په یوې ځانګړې مرکې کې ویلي دي چې پرافغانستان او عراق دامریکایې یرغل په پرېکړې او امر ندي پښېمانه او پردې دواړو اسلامي هېوادونو دحملې پرېکړه پرځای پرېکړه وه.

ددې هریو پخواني او اوسني جګپوړي امریکایې مشر خبرې داسې دي چې باید ډېر غور پرې وشي او هسې بابس ونه ګڼل شي.

رښتیا دا ده چې داسلامي نړۍ ترڅنګ دسیمې نااسلامي ستر ځواکونه امریکا ته په هغه نظر نه ګوري په کوم نظر چې ورته کتل پکار دي؛دامریکا دځینو غولونکو خبرو او اقداماتو په مقابل کې ځان غولونې ته ورته عکس العمل ښکاره کوي ؛ چې دامریکا نه لږې خوږې خبرې واوري او یا یې نرمي وویني نو ژر دامریکا اصلي څېره هېروي او امریکایان بیا دسکنو ورونو په څېر بولي.

باید دځان غولونې کلتور پرېښودل شي او حقایقو ته دحقایقو په نظر وکتل شي؛دبش دا خبره یواځې دبش نده بلکې حقیقت دادی چې دا دامریکایانو دقاطع اکثریت دزړونو خبره ده او همدا دامریکا اصل څېره ده.

پردې دواړو هېوادونو دامریکایې یرغل په نتیجه کې دامریکایې ادارو له لورې دخپرو شویو اعدادو او ارقامو ته په پام سره نېږدې ۲ ملیونه بې ګناه انسانان ووژل شول خو بش وایې پرې نه یم پښېمانه او ولې به پرې پښېمانه وي چې وژل شوي خلک ټول هغه خلک دي چې بش یې پرضد صلیبي جنګ اعلان کړیدی ؛ وژل کېږي هم ټول همدوئ،نظامونه هم دهمدوئ تباه کېږي،هېوادونه

هـم دهمـدوئ ورانېـږي؛ آبـاد کـلي او ښـارونه هـم دهمدوئ په کنډوالو بدلېږي ؛ زېرمې هم دهمـدوئ لوټ کېږي؛دانساني تاريخ بـدنامو زنـدانونو تـه هـم همدوئ ځي په تـورو شـپو کـې وحشي- فوځيـان هـم دهمدوئ په کورونـو وراوړي؛عزتونـه هـم دهمـدوئ لوټ کېږي؛دهمدوئ ددېني شعايرو تقدس ترپښـو لاندې کېږي او ملي عنعنات او ديني لارښوونې هـم دهمـدوئ سـختې متضرـرې کېږي؛دتعصـباتو او دښمنيو تخم هم همدلته کـرل کېـږي او پـه نتيجـه کې دخپلمنځي جنګونـو نـه ختمېـدونکې لـړۍ هـم دهمدې مظلومانو په برخه کېږي.

او چې دامريکا دښمن ته دومره ستر تاوانونـه وراوړي نو که پدې لار کې په زرونو امريکايـان خپـل ژوند لـه لاسـه ورکـړي او يـا هـم پـه مليـاردونو ډالـر مصرف شي نو امريکايان پرې بايد خفه نه شي ځکـه چـې دا دبـش پـه وينـا مقـدس صـليبي جنـګ دی نودځان او مال قرباني ورسره طبعي ده.

پرعـراق دحملـې لپـاره پلمـه پـدې هېـوادکې دکيمياوي وسلو شـتون و؛پخپلـه امريکـا هـم ومنلـه چې پرعراق ديرغـل لپـاره دکيميـاوي وسـلو دشـتون خـبره دروغ وه؛دلتـه کيميـاوي وسـلو شـتون نـه درلودلو خو سي آيي ای دروغ ويلې وو.

نو دبـش اداري چـې کـوم شـی دحملـې لپـاره مجوز ګرځولی و دمجوز دغلـط ثابتېـدو پـه صـورت کې امريکايانو بايد عراقيانو ته تاوان ورکړی او دبش په شمول يـې دهغـه مهـال ټـول هغـه امريکـايې لـوړ پوړې چارواکې چې جنګ ته يې لمن وهلـه مجـازات کړی وای او که دا نـه وه نـو امريکايـانو خـو لږترلـږه بايد دعراقيانو نـه بښـنه غوښـتی او بـش يـې بښـنې غوښتنې ته اړ کړی وای.

خـو بـرعکس بـش ددې جنـګ پـه اړه خپلـه خوښې ښکاره کـوي او امريکايـان ورتـه چوپـه خولـه ګوري چې همدا دټولو امريکايانو درضايت ډېره لويه نښه ده.

دافغانسـتان جنـګ امريکايـان دخپـل تـاريخ ترټولو اوږد او تـاواني جنـګ بـولي خـو پـدې اړه هـم امريکايان دخپلو مشرانو نه ،نه داپوښته نه کوي چې تاسو ددې جنګ نه څه ترلاسه کړل؟او دخپـل زور او دطالبانو دظاهري کمـزورۍ پـه زمانـه کـې مـو چـې طالبان مـات نـه کـړل نـو اوس بـه دخپـل ضـعف او دطالبانو دځواکمنۍ په وخت کې څه وکـړای شـئ؟ او دفوځونو زياتوالی به څه ګټه ورسوي ؟

دمجاهـدينولپاره دامريکـايې يـانورو بهرنـو فوځونـو زياتېـدل څـه دتشـويش وړخـبره نـده اونـه ورسره دا وېـره شـته چـې دسـونويازرونوفوځونو پـه زياتېدوبـه دښـمن بـريمن شي چـې همـداخبره پـه امريکاکې دننـه هوښـياران او حقايقوتـه دحقايقوپـه نظر کتـونکي امريکايـان هـم منـي ؛امريکـايې نـامتو ليکوال چارلس وي پينـا charles v pena پـه خپلـې يوې تازه ليکنې کې چـې پـه معتـبرو ګنـو امريکـايې رسنيو کې نشر شوه ليکلي دي چې امريکـا پـه خپـل ټول فوځ جګړه نه شي ګټلای دا لا څه کوې چـې څـو زرو به يې وګټې؛امريکايې سـناتورانو (جـان مکـين او لينډسی ګراهام) په حکومت ټينګار کړی و چـې يـو څو زره نور فوځيان دې افغانستان تـه واسـتوي؛دوئ دا غوښـتنه دامريکـايې قومانـدان جـنرال نکولسـن

دهغو څرګندونو له مخې وکړه چې کانګرس ته يې ويلې و چې افغانستان کې دطالبانو سره جګړه يو داسې بند حالت ته رسېدلې ده چې هيڅ پرمخ نه ځي؛ په همدې اساس يې دامريکا دنوې ادارې نه افغانستان ته دځو زرو نورو فوځيانو دلېږلو غوښتنه کړيده ترڅو دافغان ځواکونو ترڅنګ ودرېږي او جنګ په خپلې ګټې تمام کړي.

ليکوال وړاندې ليکي دهېواد په مختلفو سيمو کې دامريکايې ځواکونو په بمباريو کې دولسي وګړو دمرګ ژوبلې له املې په خلکو کې دامريکايې ځواکونو سره کرکه ډېرېږي اوددوئ له منځه نوې مقاومت کونکي راوځي؛هغه زياتوي چې په افغانستان کې شته ګوابنونه دا نه اجابوي چې امريکا هلته خپل فوځونه وساتي ؛طالبان په بهر کې چاته ګواښ ندی ؛هغوئ غواړي بهرني ځواکونه له خپل هېواد نه وباسي او له بهرنيو هېوادونو څخه غوښتنه لري چې ددوئ په هېواد کې دې مداخلت نه کوي؛دافغانستان جنګ يوائې افغانان کولای او ګټلای شي نو بايد پرېښودل شي چې څوک يې ګټي.

چارلس وي پيناعام ليکوال ندېبلکې په دفاعي چارو کې دمشر څېړونکي حيثيت لري او دتروريزم پرضد جګړې لپاره ستراتېژۍ جوړولو باندې يې کتاب هم لکلی دی.

موږ دامنو چې په امريکاکې دچارلس وي پينا په څېر ګڼ تنان شته خوترکومه چې دټول ولس خبره ده نوپدې کې شک نشته چې دولس په حيث دخپل دولت سره په جرم کې شريک دی ؛امريکايې ولس په خپلې ديموکراسۍ ډېر نازېږي او په خپل هېواد کې دبيان ازادي مثالي بولي خو بيا هم دخپل دولت دناروا جنګونو پرضد مؤثر اواز نه پورته کوي بلکې دخپلو ټکسونو له لارې ددې جنګونو آبياري کوي نو دا ددې خبرې روښانه دليل دی چې دوئ دخپل دولت سره پدې هر څه کې همغږي دي ځکه خو ددې جنګونو پرضد اواز نه پورته کوي او دمسلمانانو پرضد دخپل فوځ ټول وحشت تائيدوي.

دامريکا قوماندانان چې افغانستان ته دنورو امريکايې فوځيانو درالېږلو غوښتنه کوي نو دا خبره دافغانانو او دسيمې دهېوادونو لپاره ډېره دفکر خبره ده؛دا سمه ده چې دلته امريکا ډېر درانده تلفات وليدل او بې له شکه چې په جنګ کې دشکست سره مخامخ شويده خو دشکست اعتراف کولو ته ژر نده تياره دا بايد ومنو چې امريکا به دلته ژر دشکست اعتراف ونکړي؛امريکا چې دلته خپل ګڼ نازولي فوځيان له لاسه ورکړل او ډېر زيات مالونه يې ولګول داسلامي شرعي نظام اودلته دجهادي فکردله منځه وړلو ترڅنګ دسيمې په سطحه نورهم ډېر ستر اهداف لري چې دهماغې اهدافو لپاره يې دلته ځان ټينګ کړی؛ دسيمې هېوادونه بايد دا ومني چې امريکا دشکست په همدې حالت کې هم دخپلې سوبې لپاره ډېرې هڅې کوي او خپلې شيطاني لومې خپروي نو دا اوس دسيمې په هېوادونوده چې دسيمې په اړه امريکا دشومو پلانونوعملي کېدوسره مرسته کوي اوکه دسيمې نه دامريکا دويستلو حرکت تائيدوي.

نړۍ د یو ستر تصادم یا جنګ په لور.... !

بشیر ارمان

د روان(۲۰۱۷)زکال په ۷ مه نیټه امریکا دسوریې حمص ښارته څېرمه په واقع الشعیرات هوائي ډګر ۵۹ ټاهاک مزایل وویشتل چې له املـه یې دایـران او سوریې د ګد هوائي ځواک ۷۳ تنـه صاحب منصبان ووژل شول.

دشام دننه مرستندویه اداري دشامي حکومت دا دعوه ردوې چې ګـواکي دامریکا په یادو بریدونو کې ایله د دوی ٦ کسان وژل شوي او نور دسر کوم درونـد زیان یې ورته ندی اړولی.

دالجزیرې په راپور: دامریکا لخوا دټام هاک مزایـل بریـدونو وروسـته الشـعیرات هـوائي ډګـر لـه استفادې څخه وتلی هم دا راز دالوتنو لپاره دروسیې لـه لـوري یـوه نـوې جوړیـدونکې هـو ائې کرښـه هـم زیانمنه شوې هم هغه نوي پرمختللي وسایل لـه منځـه لاړدي کوم چې په یاد هوایې ډګر کـې روسې دنـوې جنګي ټیکنا لوجۍ په لړ کې نصب او ودرولي وو

دخبري سرچینو په وینا:دحمص ښار جنوب ته په واقع الشعیرات هوایي ډګر کې دسوریې او ایـران دجنګي الوتکو سربیـره دروسـیې جنګـي الـوتکې هـم شتون لري چې په دې توګه ددې هوایې ډګره دایـران او سوریې ترځنګ روسیه هم الوتنې کوي. او دسـوریې د دولت دمخالفینو دواک لاندې سیمو(لکـه ادلـب، حماه، او حمص) باندې بمباردونه کوي.

کلـه چـې دامریکـا لـه لـوري یـاد هـوایي ډګـر دبریدونو هدف ګرځیده هلته په هم هغه شیبو کـې دایـران او سـوریې دپیلوټانو دشـتون ترځنـګ روسـیي پیلوټان هم موجودوو چې حتماً به هغوی هم دبریدونو په وجه متضرر شوي وي.

د ۲۰۱٦ زکـال پـه سـتمبر کـې روسـیې دغـه هوایي ډګرته خپلې لـه یـودرجن زیـاتې الـوتکې بیـولې چـې دحکومـت مخـالفینو پـه وینـا: دالشـعیرات لـه هوایې ډګره هره ورځ لـږ ترلـږه پنځـوس ځلـه جنګـي الـوتنې کیـږي او دسـوریې ددحکومـت مخـالفینو اهداف په نښه کوي .

خبري منابع وایي په سوریه دممکنه بریـد لپـاره امریکـا منځنـي ختـیځ تـه خپـل ۳۵ زره پوځیـان هـم لیـږلي او هـم یـې خپلـه یـوه سـمندرې بیـړۍ دروم سمندرګي ته رسولې او هـم یـې داټالیـا پـه سـمندري حدودو کې په یوه بله بیړۍ کې هام ټاک لـه مزایلـو ډکه ودرولې او پـه دې سربیـره د روم سـمندرګي پـه ختـیځ کـې دامریکـا یـوه بلـه بحـري بیـړۍ یـو ایـس میسـاروي هـم داراز پـه سره بحیـره کـې یـې جـلا سـمندري بیـړۍ ودرولـې او پـه خلـیج کـې خـو لـه وړاندې دامریکا سمندري بیړۍ ایچ ډبلیـوبش شـتون لري چې ددې ټولـو نـه بـه امریکـا پـه سـوریه ممکنـه بریدونو کې ونډه اخلي

په دې علاوه امریکا به په سوریه باندې د هوایې بریدونو لپاره دترکیې دانجر لیـک هـوایې ډګـر څخـه کار واخلي او هم دترکیې پرته داردن کویت، عـراق پـه شمال کې له واقع پوځي بیسونو څخه کار واخلي

دکتونکو په وینا: امریکا ددینه وړاندې په ۲۰۱۴ زکال کې هم په سوریه باندې ۴۷ ټام هاک مزایل ویشتلي وو خو هغه مهال دسوریې ولسمشر بشار لاسد له دې پلوه دامریکایې بریدونو هرکلی او ملاتړ کړی و چې د هغو بریدونو هدف داعش جنګیالي وو او په دې نویو بریدونو له دې پلوه خوابدی او ناراض دی چې دداعش په ځای دده دحکومت هوایې ډګر هدف ګر ځیدلی هم دا راز روسیه او ایران هم مشتعل او اندیښمن دي

دا هم جوته شوې چې ټام هاک مزایل په هدف ویشتلو کې مشهور دي او دامریکا پوځ یې له ۱۹۸۳ څخه په مختلفو هېوادو کې استمعالوي دسوریې څخه وړاندې په لیبیا او افغانستان دواړو کې ۸سوه مزایل کارولي چې دیو مزایل بیه لس لکه ډاګر کېږي ددې مطلب دادی امریکا یوائې په یادو دواړو هېوادو د۸زره لکه ډالرو په بیه مزایل کارولي

دنړیوالو چارو کتونکو په اند: دامریکا لخوا اوسني حرکتونه ښیي چې نړۍ په ډېره تیزۍ سره دسیاسي او دفاعي بدلونو په لور درومي په خاصه توګه هند کې دمودي دصدراعظم او امریکا کې دټرمپ ولسمشر کیدو نړۍ دنورو جدي خطرونو په مورګه ودرولې هم په منځني ختیځ کې داسرایل موجودیت دنړۍ لپاره یو جدی خطر دی چې هلته شتون دنړۍ لپاره هیڅکله ښه شاګوم ندی

بل پلو امریکا په اقتصادي ډګر کې دچین او روسیې له لوري دنویو ننګونو سره مخ شوې ، چین او روسیې په ګډه دبرکس بانګ په نوم داسې بانګ رامنځته کړی چې دایي ایم ایف او نړیوال بانګ معادل دی په ورته ډول دچین لخوا ید داسې ترقیاتي بانګ رامنځته کول چې د ډېر کم سود په عوض کې دنړۍ غریبو هېوادوته پریمانه پورونه ورکوي امریکا لپاره دمنلو او زغم وړندي اوس دامریکا سره فقط یوه لارپاتې ده هغه داده : چې په نړۍ دخپلې برترۍ منلو لپاره له پوځي ځواک کارولو نه کارواخلي څو یوځل بیا خپل ځان په پښو ودروي

دکتونکو په نظر داپریل په ۷مه نیټه دامریکا له لوري په سوریه شوی برید هم دغه اراده تمثیلوي چې امریکا غواړي دځواک په کارولو سره هغه ځواکونه او هېوادونه چیلنج کړي کوم چې ور سره په نړیوال ډګر کې دسیالۍ لپاره ځانونه جوړوي په دې لړ کې روسیه بالمقابل کوښښ کړي چې په شام او منطقه کې دامریکا دپلانونو په مخ کې خنډونه واچوي دغه وجه ده چې روسیې دشامي حکومت دفاع لپاره په منطقه کې خپلې پوځي هډې جوړې کړې او دهغو نه دوامدار دشام د دولت مخالفینو باندې بمباردونه کوي او پخپل ټول وس یې تراوسه دبشارلاسد رژیم ژغورلی خو امریکا ته دروسیې دغه ملګرتیا اود بشار لاسد درژیم نه ملاتړ دمنلو وړندی

حتمي ده چې کله امریکا په سوریه برید کوي له امله به یې دروسیې پوځي هډې او تنصیبات هم متضرر کېږي چې په مقابل کې به روسیه خامخا توند غبرګون ښیي او ددې امکان شته چې په سوریه کې دامریکا او روسیې دواړو پوځي لاسوهنې د دواړو ترمنځ ترمنځ په یوخونړي مخامخ تصادم منتجې شي چې دا به دنړۍ ترټولو ستر جنګ او تصادم وي هم پایلې به دنړۍ او په تیره دمسلمانانو هیښونکې وي ....

د اسلام غزوات اوسرليا

قرطاء ته د محمد بن مسلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سريه

ابوظهير

په شپږم کال دهجرت رسو ل الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دمحمد بن مسلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په مشرۍ درې سوه مجاهدين [قرطاء] په لور واستول ، قرطاء دبني بکرقبيلې يو ښاخ او د مدينې منورې نه د۷ ورځو په مسافت لري په [ضربه] سيمه کې ميشت وو (زرقاني ۲توک ۱۴۴مخ)

حضرت محمد بن مسلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او دهغه ملګرو په قرطاء باندې برید وکړ ، تري لس تنه يې قتل کړل او نور وتښتيدل ، يونيم سل اوښان او درې زره او زې يې له هغوی غنيمت کړې او ټول يې راوستل درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په حضورکې يې وړاندې کړل، ديادونې وړه چې محمد بن مسلمه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ او ملګري يې د۱۹ورځو سفر وروسته د محرم په ۲۹مه نيټه بيرته مدينې منورې ته ستانه شول ، رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دخمس ويستلو وروسته غنيمت دغانمينو ترمنځ وويشه او يو اوښ يې دلسو اوزو برابر اوګرځاوه (ابن سعد طبقات ۲توک ٥٦مخ)

په بخاري شريف کې دحضرت ابوهريرة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ څخه روايت دی چې د محمد بن مسلمّه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په مشرۍ مسلمانانو دبني حنيفه سردار ثمامة بن اثال ژوندی ونيو او هغه يې هم درسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په وړاندې راوست ، رسو الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ په مسجد کې ستنې پورې دهغه دټرلو حکم وکړ (څو هغه دمسلمانانو لمونځ، ، دالله تعالی په وړاندې دعاجزۍ نندارە وکړې ، داخرت لورته راغب شي او له زړه نه يې دکفراو ظلمونو تيارې کډه وکړې)

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ به چې کله په هغه تيريده ورته وبه يې فرمايل : ثمامه !په ما ستا څه ګمان دی؟ ثمامه ويلي: زما په تا ښه ګمان دی چې راسره ښه رويه به وکړي.

اِن تَقتُل تَقتُل ذا دمٍ وَاِن تُنعِم تُنعِم عَلی شَاکرٍ وَاِن کُنتَ تُریدُ الَمالَ فَسَل مِنهُ مَاشِئتَ

ژ: که ته ما قتل کړې نو يوقاتل به قتل کړې چې دقتلولو حقداردی او که انعام او احسان راسره وکړې نو په يو شکرګذار به انعام احسان وي اوکه مال غواړې چې هرڅومره ته غواړي زه به يې راوړم.

رسول الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ددې ځواب په اوريدو چوپ روان شو په دوهمه ورځ بيا په هغه تير شو او له ثمامه يې وپوښتل:

ثمامه! ته زما په اړه څه ګمان لري؟

ثمامه درسول الله ﷺ تلطف او نرمي محسوس کړه نو لومړی او دربیمه جمله یې حذف کړه بس دومره یې ویل:

اِن تُنعِم، تُنعِم علی شَاکِر

ژ: که احسان وکړي نو دا به په یوشکر ګذار احسان وي.

رسو الله ﷺ ددې په اوریدو بیا چوپ روان شو دربیمه ورځ بیا په هغه ځای تیر شو او بیا یې هم هغه پوښتنه وکړه ثمامه وویل:

زما ګمان هم هغه دی کوم چې ما پرون عرض کړ

نن ثمامه د اِن تُنعِم، تُنعِم عَلی شَاکِر جملې هم حذف کړې او خپله معامله یې د رسول الله ﷺ خُلقِ جمیل او عفوې کرم ته پریښوده رسول الله ﷺ صحابه وو ته وویل:

قَد عَفَوتُ عَنکَ یَا ثُمامة واَعتَقتُک

ژ ثمامه! ماته وښلي او ازاد مې کړي!

ثمامه دپریښودو سره سم مسجدته څېرمه ګڼو ونوته لاړ او هلته یې غسل وکړ بیا مسجد ته راغی وې ویل:

اشهدُ ان لا اله الا الله واشهدُ انَّ محمدا رسول الله

بیا رسو الله ﷺ ته مخاطب شو دالله رسوله! ماته ستا دمخ نه بل مبغوض مخ نه و اونن ماته ستا دمخ نه دزمکې په مخ بل ګران مخ نشته ، دنن نه وړاندې ماته ستا ددین نه بل مبغوض دین نه و، نن راته ترټولو ګران دین ستا دی په ورته توګه ستا دښار(مدینه منوره) نه ماته مبغضوض ښار و، نن راته دا ښار له ګردو ښارونو ګران دی، زه د عمرې په نیت روان وم ستا، ملګرو ونیوم او دلته راوستم اوس چې ته ماته هر حکم کو ي زه به هغسې وکړم.

رسو الله ﷺ هغه ته حکم وکړ چې عمرې ته لاړشه! او هم یې بشارت ورکړ[چې ته به روغ او سالم درومي هیڅوک به درته اذیت درنکړای شي]

کله چې ثمامه رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ مکې ته لاړ، هلته یو کافر هغه ته وویل: ثمامه! ته بې دینه شوي؟ ثمامه وویل: نه !هیڅکله نه، ما په رسول الله رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُ ایمان راوړی او مسلمان شوی یم یعنې بې دینه شوی نه یم! ځکه کفر او شرک هیڅ دین ندی بلکې یولغوه اوبیهوده سوچ دی او هرچې زه یم دالله تعالی تابعدار اوبنده یم اوخپل هرڅه مې الله تعالی ته وسپارل، په خدای جَلَّ جَلَالُهُ سوګند هیڅکله به ستاسودین ته درنشم اوښه پوی شئ دیمامه نه چې کومه غله تاسو راوړئ له دې وروسته به یوه دانه رانه وړئ څو رسول الله ﷺ تاسوته دراوړواجازه درنکړي.

ثمامه چې کله یمامه ته ستون شو ، په قریشو یې دغلې راوړو لاره وترله، قریش مجبور شول رسول الله ﷺ ته عارض شول:

بیشکه! ته دصله رحمې ښودنه کوي او مونږ ستا خپلوان یو ، ثمامه ته یو لیک واستاوه چې مکې ته دغلې په وړو لګولی بندیز پورته کړي

رسول الله ﷺ ثمامه ته لیک ولیکه : غله مه بنده وه (بخاري شریف فتح الباري ۸ټوک باب وفد بني حنیفة)

خُبرنه:

هغه کس چې غواړي اسلام قبول کړي ورته غسل مستحب دی (فتح القدیر)

ثمامة بن اثال رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په غوره صحابه وو کې شماردی درسو ل الله صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دوفات وروسته چې کله ديمامه خلک مرتدشول او دمسيلمه کذاب سره ملګري شول حضرت ثمامة رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ هغوی ته دا ايتونه تلاوت کړل:

بسم الله الرحمان الرحيم

حم تَنزِيلُ الكِتاب مِنَ اللهِ العزيز العَلِيمِ غَافِرِ الذَّنبِ وَ قَابِلِ التَّوبِ شَدِيدِ العِقَابِ ذِی الطَّولِ لَا اِله اِلاهُو اِلَيّهِ المَصير

ژ: داکتاب نازل کړای شوی دهغه الله له جانبه، څوک چې غالب دی، توبه قبلونکی دی، مجرمانو ته د سختې سزا ورکونکی دی او دوستانوته لوی انعام ورکونکی دی دهغه پرته بل معبود نشته دهغه طرف ته دټولو ور تلل دي (سورة مومن ايت ۳)

او بيا يې خلکوته وويل:

لږانصاف وکړئ ددغه معجزنظام سره دمسيلمه کذاب خرافات مه مقايسه کوی

حضرت ثمامه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ په حقانيت او اخلاص کې ډوب و، داکلمات يې له خولې وتل دومره تاثير يې لاره چې درې زره کسانو دمسيلمه کذاب نه وروسته شول او داسلام غيږې ته ننوتل (زرقاني ۲ټوک ۱۴۴مخ)

ابن اسحاق وايي: چې کله ديمامه خلک مرتدشول حضرت ثمامه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ خلک دمسيلمه کذاب سره ديوځای کېدو څخه را وګرځول او وې فرمايل:

اِيَّاکُم وامرًا مُظلماً لَا نُورَ فِيهِ وانّهُ لَشِقَاءٌ کَتَبَهُ الله عزَّ وجل عَلی مَن اَخَذَ بِهِ مِنکُم عَلی مَن لَم يَاخُذ مِنکُم يَا بَنی حَنِيفة

ژ: خلکو! تاسو ځانونه دهغه تاريک کاره وژغورئ چې په هغه کې هيڅ رڼا نوم اونښان نه ښکاري البته په تحقيق سره داشقاوت او بدبختې ده کومه چې الله تعالی ددغو خلکو په برخه کې ليکلې، ابتلاء او امتحان دی دهغو خلکو لپاره چې داغوره کړی او دهغو خلکونه چې غوره يې نکړې دبني حنيفه خلکو! دې نصيحت ته ښه متوجه شئ

ليکن حضرت ثمامه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ چې کله وليدل چې د ده نصيحتونه کارنه ورکوي او په لوی شمير کې خلک دمسيلمه کذاب اتباع کوي نو کوم مسلمانان چې دده سره پاتې ول هغوی ته يې وفرمايل:

په خدای سوګند په دې ښار کې هيڅکله نه اوسم زه وينم چې الله تعالی داخلک په فتنه کې مبتلی کړي کوم خلک چې له ماسره تلل غواړي هغوی راځئ!

ثمامه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ دمسلمانانو ديوې ډلې سره يوځای دهغه ځای نه لاړ او دعلاء بن حضرمي رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ سره يوځای شو او په دې باره کې ځيني شعرونه هم ويلي:

دَعانا اِلی تَرکِ الدِيانَةِ وَالهُدی

مُسَيلَمَة الکَذَّابُ اِذ جَاءَ يَسجَعَ

ژ: مسيلمه کذاب مونږ ددين او هدايت پريښودو ته وربللو کوم وخت چې هغه دکاهنانو سره سجع ويله

فَيَا عَجَبَا مِن مَعشَرٍ قَد تَتَابَعُوا لَهُ فِی سَبِيل الغَیِ والغَیُّ اَشنَعُ

ژ: تعجب دی په هغو خلکو چاچې دهغه په اتباع کولو دګمراهی لاره غوره کړې حال داچې ګمراهې ډېره ناوړه ده (کذافی الاستيعاب لابن عبد البرترجمة ثمامه رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ)

نوربيا...

جنګي جنایتونه(مارچ)

سید سعید

د روان(۲۰۱۷،ز) کال د مارچ دمیاشتي په ۲مه نیټه شپې مهال د زابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ د الګې بازارته نژدې د ملخیلو په کلي کې د یرغلګرو په یو هوایې برید کې دوې ښځې، نهه تنه نارینه شهیدان او دوه ماشومان ټپیان شوي دي.

دمارچ په ۳مه دزابل ولایت د ارغنداب ولسوالۍ په کلاګۍ سیمه کې د یرغلګرو په ډرون حمله کې یو موټر تخریب، یو کس پکې شهید او بل ټپي شوی دی.

دمارچ په ۳مه دمیدان وردګ ولایت د چک ولسوالۍ د عربانو سیمې د کنجغتو په غره کې یرغلګرو درې تنه ولسي- وګړي چې ښکار یې کاوه، شهیدان کړي دي.

دمارچ په ۳مه د تخار ولایت د درقد ولسوالۍ په قمګذر سیمه کې د یرغلګرو د بي ۵۲ ډوله الوتکې په برید کې ددوو ماشومانو په ګډون پنځه تنه ولسي- وګړي شهیدان شوي او اووه تنه ژوبل شوي دي.

د مارچ په ۳مه د فراه ولایت د فرارود ولسوالۍ په ژړ اخندزاده زیارت، تپه سعادت، تودنک، سپانزي او دبازار سره نژدې غټ کلي کې د اشغالګرو او داخلي عسکرو په بریدونو کې د ښځو او کوچنیانو په ګډون پنځه لس تنه ولسي- هیوادوال شهیدان شوي او درویشت تنه ټپیان شوي دي.د مارچ ۳مه ډیره خونړۍ ورځ وه،په همدې ورځ اوشپه کې د یرغلګرو او داخلي عسکرو په بمبارونو او توپچي بریدونو کې اته شپیته تنه ملکي هیوادوال شهیدان او ټپیان شوي دي.

دمارچ په ۴مه دکندهار ولایت دمیوند ولسوالۍ د بندتیمور په سیمه کې یرغلګرو دکورنیو عسکرو په ملتیاچاپه وهلې، خلګ یې وهلي،دخلګو نقلیه وسایط یې سوځولي او اته تنه ولسي وګړي یې د بندیانو په توګه له ځان سره وړي دي.

د مارچ په ۵مه د زابل ولایت دارغنداب ولسوالۍ په الدي تنګي کې د یرغلګرو په هوایې برید کې دوه تنه بزګران چې په خپلو کروندوکي یې اوبه لګولې شهیدان شو ي دي.

دمارچ په ۵مه د بلخ ولایت د البرز ولسوالۍ په سردره سیمه کې داخلي عسکرو دچاپې په

مهال يو جومات په بمونو الوزولی او لس تنه ولسي وګړي يې تر وهلو وروسته بنديان کړي دي.

دمارچ په ۶مه د غزني ولايت د مقر ولسوالۍ په جمبرانو سيمه کي د قومندان ظاهر اربکيانو يو ملکي وګړی شهيد کړی او بل زخمي کړی دی.

دمارچ په ۶مه دارزګان مرکز ترينکوټ کي داخلي عسکرو د پيوستون ږغ راډيو د خبريال(سردار ولي سمسور) پلار شهيد کړی دی.

دمارچ په ۹مه د کندز ولايت د چهاردرې ولسوالۍ په سړک بالا عيسی خېل سيمه کي يرغلګرو پر يو موټر ډرون برید کړی، په نښه شوي موټر کي شپږ تنه قومي مشران سپاره وو، چې په همدې برید کي ټول شهيدان شوي دي.

د مارچ په ۱۰مه دزابل ولايت د شاجوی ولسوالۍ د کرباغوپه سيمه کي ځايې عسکرو يو ملکي وګړی او يو ۹ کلن زوی يې چې په موټر سايکل سپاره وو، شهيدان کړ ي دي.

دمارچ په ۱۱مه دفاريا‌ب ولايت د شيرين تګاب ولسوالۍ په مربوطاتو کي کورنيو عسکرو لومړی له يو ملکي وګړي څخه دواړه لاسونه پرې کړي او بيا يې شهيد کړی دی.

د مارچ په ۱۲مه دزابل ولايت د ارغنداب ولسوالۍ دکوچيانو په کلي کي داخلي عسکرو يو کليوال (عبدالرازق) شهيد کړی دی.

د مارچ په ۱۲مه د کندز ولايت مرکز اړوند په لوی کنم سيمه کي يرغلګرو دچاپې په مهال درې تنه ولسي وګړي شهيدان کړي دي.

دمارچ په ۱۳مه د پکتيکا ولايت د ارګون ولسوالۍ په دره سيمه کي اشغالګرو دجنازې پر مراسمو بمبارکړی،په دغه بمبار کي ديارلس تنه ولسي- وګړي شهيدان شوي او پنځه تنه ژوبل شوي دي.

دمارچ په ۱۴مه د بادغيس ولايت د جوند ولسوالۍ په الله يار سيمه کي دقوماندان ګل احمد په مشري اربکيانو دملکي خلګو پنځه اتيا کورونه سوځولي،د سوځول شوو کورونو څښتنانو دجوند مرکز ته پناه وړې ده.

دمارچ په ۱۵مه يرغلګرو د داخلي عسکرو په ملتيا د کندز ولايت د چهاردرې ولسوالۍ په قريه يتيم سيمه باندي چاپه وهلې، د عيني شاهدانو په وينا يرغلګرو د کورونو تر تلاشي کولو وروسته په سيمه کي بمبار وکړ چې شپږ تنه ولسي وګړي پکي شهيدان او پنځه لس نفره نور ټپيان شوي دي.

دمارچ په ۱۷مه د کندهار ولايت د ميوند ولسوالۍ په کلان کچه سيمه کي دواده پرمراسمو د يرغلګرو په بمبار کي د زوم په ګډون شپږ تنه ملکي وګړي شهيدان شوي،دعيني شاهدانو په وينا يرغلګرو لس تنه ولسي وګړي بنديان کړي او يو مسجد يې په بمونو الوزولی دی.

دمارچ په ۱۹مه دفاريا‌ب ولايت د شيرين تګاب ولسوالۍ د تورګل په سيمه کي اربکيانو يو ملکي سړی(محمدحسن) شهيد کړی دی.

د مارچ په ۲۲مه رسنيو خبر ورکړ چې: دفراه ولايت مرکز اوباالبلوک ولسوالۍ،ترمابين د کنسک په سيمه کي داخلي عسکرو دولسي- وګړو دوه سوه (۲۰۰) کورونه په بلدوزونو نړولي،خبر کي

ویل شوي چې کورونه په داسي حال کي ویجاړ شوي چې خلګو ته دخپلو کورونو څخه د سامانونو او شیانو دایستلو وخت هم نه دی ورکول شوی.

دمارچ په ۲۴مه طلوع تلویزیون خبر ورکړ چې: هلمند کي خلګ د سنګوریانو په نوم ملېشو څخه ډیر په عذاب دی، دخلګو په وینا همدغه ملېشې په سړي تښتونو، غلاوو، وژنو او نورو جرمونو ککړې دي، په خبر کي ویل شوی چې ګډ حکومت او په ځانګړې توګه برتانوي یرغلګر همدغه ملېشې اکمالوي. دسنګوریانو ډله پخواني کمونسټ جنرال جبار قهرمان جوړه کړې او مشري یې هم د نوموړي په غاړه ده،دخبر په حواله سنګوریانو کي دملا منان نیازي وسله وال هم شامل دي او په ګډه د طالبانو پر ضد جنګیږي، خو همدغه ملېشې چې هر ځای د طالبانو پرضد جګړې ته وتلي، دولسي خلګو سره یې ډیر بد چلند کړی دی.

د مارچ په ۲۶مه د تخار ولایت مرکز تالقان په چشمه شېر سیمه کي د مقتدر په نوم اربکي قوماندان په یوه مجلس کي درې تنه سپین ږیري شهیدان کړي او څلور تنه یې ټپیان کړ ي دي.

دمارچ په ۲۶مه د ننګرهار ولایت د مهمندره ولسوالۍ په باسول سیمه کي اربکیانو یو ماشوم شهید کړی دی.

دمارچ په ۲۶مه مابنام دفراه ولایت د باالبلوک ولسوالۍ په شیوان سیمه کي د داخلي عسکرو دهاوان په برید کي یو مسجد ویجاړ شوی او یو لمونځ کونکی ګل احمد اکا شهید شوی او پنځه تنه نور لمونځ کونکي پکي ټپیان شوي دي.

دمارچ په ۲۷مه دهلمند ولایت د سنګین ولسوالۍ د چینې مانده د دښت په سیمه کي دیرغلګرو په ډرون برید کي درې تنه ملکي وګړي شهیدان شوي دي.

دمارچ په ۲۹مه د ننګرهار ولایت د خوګیانو ولسوالۍ په وزیرو سیمه کي اشغالګرو ځواکونو د داخلي عسکرو په همکارۍ چاپه وهلې، دچاپې څخه وروسته د یرغلګرو او طالبانو ترمنځ نښته شوې چې دواړو لورو ته پکي ځاني زیان رسیدلی دی، ترجګړې وروسته یرغلګرو دخلګو پر کورونو بمبار کړی،سیمه ییزو خلګو رسنیو ته ویلي چې په یاد شوي بمبار کي دیرش تنه ولسي هیوادوال شهیدان او ټپیان شوي دي.

دمارچ په ۳۱ مه بي بي سي خبر ورکړ چې : دارزګان ولایت مرکز ترینکوټ مربوط په مهراباد سیمه کي د یرغلګرو په یو هوایې برید کي دوې نښځي او درې ماشومان شهیدان شوي او اته تنه نور ولسي وګړي ټپیان شوي دي.

دمارچ په ۳۱ مه مابنام مهال دفراه ولایت د باالبلوک ولسوالۍ په شیوان سیمه کي د داخلي عسکرو په ډزوکي یو ماشوم شهید شوی او یوبل کوچنی ټپي شوی دی.

مأخذونه :[بي بي سي راډیو،ازادي = ،افغان اسلامي اژانس ،پژواک = ،خبریال ویبپاڼه ،لراوبر= ، نن ټکی اسیا=اوبینوا[=

د مورچل وږمي

ملا محمد مطمئن

يوسفي عزم

ډار مو ترې نشته زولنو ته سلامي درېږو
حوصله نه بايلو په عزم يوسفي درېږو

ايمان مظبوط لرو سختيو سره مينه كوو
هرې سختۍ ته په قوت ايماني درېږو

له ماشومتوبه د جهاد مسته جذبه كې ياستو
د شهادت سپېڅلي جام ته په سيالي درېږو

مونږه خو دار ته په مسكا او په خندا وردرومو
مرگي ته غېږه وركوو په هركلي درېږو

د مجاهد څومره ژوره خزانه ده خلكو
چې يو شهيد شي په عوض يې څو زلمي درېږو

مونږ مطمئنه د الله جَلَّجَلَالُهُ سره سودا كړې ده
د رب حضور ته به سينه زخمي،زخمي درېږو

غزل

عبد العلي تسل

تاپسې مې تللی دی زړگی بلا دې واخلمه
خلک راته وايي لېونی بلا دې واخلمه

ته لکه غاټول چې د غونډۍ لمن کې پورته شې
زه لکه شپېلۍ والا شپونکی بلا دې واخلمه

ته لکه غوټۍ د ډېرو زړونو درته تمه شته
گوره گل گلاب شه يا بابری بلا دې واخلمه

ته زما کابل يې زه طالب ستا د لېمو يمه
ځان به کړم لتا نه سپېلنی بلا دې واخلمه

ژوند لکه گوتمۍ د سپينو زرو له (تسل) سره
تابه پکې ږدم لکه غمی بلا دې واخلمه

غزل

سميع الله ټرون

له کلي پورته شوې لمبې ماشومان چغې وهي وای
بابا جانه وای ادې ماشومان چغې وهي

يوه بوډۍ په بلې وخته او چيغه يي کړه
کفارو ماتې کړې تمبې ماشومان چغې وهي

د ايوبي په لارو دروميي صليبي بدماشان
په فلسطين کې د غزې ماشومان چغې وهي

زما جومات کې سيپارې بخې بخې پرتې دي
زما د چم د مدرسې ماشومان چغې وهي

چا چې د نورو ماشومان ژړا ته نه پرېښودل
هغه شهيد شو د هغې ماشومان چغې وهي

د محمد بن قاسم لاره دې ولې پرېښې
مسلمه څه دې شوې جذبې ماشومان چغې وهي

ټرونه کلي نه په رون مازيګر کډه وکړه
ځکه په کلي کې د شپې ماشومان چغې وه

سپېلنی

ټکور

سينه کې مې اوسېږي لېونی لکه زړګی
په ما همدومره ګران دی يوسړی لکه زړګی

يوځوک دی چې يي تل په دعاګانو کې رانغاړم
همېش تر ې تاوه ومه سپېلنی لکه زړګی

دې خلکو ته د کوم فقيرښېرا کړه خدای قبوله
لنډشوی ورته دومره ده مرګی لکه زړګی

داغرونه اوسيندونه، چناروونه، ګودرونه
د وران وطن دا زېرمازديګری لکه زړګی

که زړه مي دا دجنګ اود جګړو وطن کې مړشو
زه نه مرم راسره به وي همدی لکه زړګی

زما تنکيو هيلو ارمانونو ته ټکور ده
جانان دي خدای لري راته ژوندی لکه زړګی

***

۲۰۱۷ زکال

د مـــارچ میاشتې جهادي خبرونه


Islamic, Jihady, Educational
and Cultural Monthly Journal
Morchal
اندراب ولسوالي